## کتاب پېژندنه


**د کتاب نوم:** لګښت سنجونه

**څانګه:** بانکداری

**تدوین کوونکی:** عبدالجبار قیومی

**ژباړونکی:** نورالله حقمل

**د څار کمېټه:**

- محمد آصف ننګ د تخنیکي او مسلکي زده کړو معین
- ديپلوم انجنير عبدالله کوزابي د تعلیمي نصاب رییس
- محمد اشرف وحدت په تعلیمي نصاب کې د معینیت د مقام سلاکار

**د تصحیح کمېټه:**

- عبدالجمیل ممتاز
- نصیر احمد احمدی

**د ګرافیک او ډیزاین څانګې مسئول:** محمد جان علیرضایي

**ګرافیک او ډیزاین:** علی مومنی

**چاپ کال:** ۱۳۹۲ لمریز کال

**تیراژ:** ۳۰۰۰ ټوکه

**چاپ ځل:** لومړی

**وېب پاڼه:** www.dmtvet.gov.af

**برېښنالیک:** info@dmtvet.gov.af

**د ISBN کوډ:** ISBN 978 [illegible]


Ketabton.com

د چاپ حق د تخنیکي او مسلکي زده کړو له معینیت سره خوندي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی          دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې          هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی          د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو          د ترکمنو د تاجکو
ور سره عرب، ګوجر دي          پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي          هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي          لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به          لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر          وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهنې وزارت پیغام

**ګرانو زده کوونکو، محصلانو او درنو ښوونکو!**

د یوې ټولنې وده او پرمختګ کاملاً د همغې ټولنې د پیاوړو کاري کادرونو، بشري قوې او ماهرو فکرونو په کار او زیار پورې تړلي دي. همدا بشري قوه او کاري متې دي چې د هیواد انکشافي اهدافو ته د رسېدو لارې چارې طی کوي او د یوه نېکمرغه، مرفه او ودان افغانستان راتلونکی تضمینوي.

انســان په خپل وار سره د الله تعالی له جانبه او هم د خپل انســاني فطرت له اړخه مؤظف او مکلف دی چې د ځمکې په عمران او د یوه ســوکاله ژوند د اســبابو او ایجاباتو د تکمیل لپاره خپل اغېزمن نقش، همدارنګه ملي او اسلامي رسالت ادا کړي.

لــه همدې ځایه ده چې د یوه ژوندي او فعال انســان نقــش، د خپل ژوند د چاپېریال او خپلې اړوندې ټولنې په اړه، تل مطلوب او په هېڅ حالت کې نه نفي کېږي او نه هم منقطع کېږي.

په ټول کې د پوهنې نظام او په خاصه توګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت مسوولیت او مکلفیت لري چې د اســلامي ارزښــتونو، احکامو او همداراز معقولو او مشروعو قوانینو ته په ژمنتیا سره، د افغانســتان په انکشاف کې فعاله، چابکه او موثره ونډه واخلي، ځکه دغه ســتر او ســپېڅلي هدف ته د رســېدو په خاطر د انساني ظرفیت وده، د حرفوي، مسلکي او تخنیکي کادرونو روزنه او پراختیا یو اړین مقصد دی. همدا په تخنیکي او مسلکي زده کړو مزین تنکي ځوانان کولی شي چې په خپلې حرفې او هنر سره په سیستماتیک ډول د هیواد انکشاف محقق او میسر کړي.

جوته ده چې په افغانستان کې د ژوند تګ لاره، دولتداري او ټولنیز نظام د اسلام له سپېڅلو احکامو څخه الهام اخیســتی؛ نو لازمه ده چې زموږ د ټولنې لپاره هر ډول پرمختګ او ترقي باید په علمي معیارونو داســې اســاس او بنا شي؛ چې زموږ د کارګر نســل مادي او معنوي ودې ته پکې لومړیتوب ورکړ شي. د حرفوي ظرفیت جوړونې تر څنګ د ځوانانو سالم تربیت او په سوچه اسلامي روحیې د هغوی پالنه نه یواځې پخپل ذات کې یوه اساسي وجیبه ده، بلکې دا پالنه کولی شي چې زموږ وطن پخپلو پښو ودروي، له ضعف څخه یې وژغوري او د نورو له سیاسي او اقتصادي احتیاج څخه یې آزاد کړي.

زموږ ګران زده کوونکي، محصلان، درانه اســتادان او مربیون باید په بشــپړه توګه پوه شي، چې د ودان او نېکمرغه افغانستان ارمان، یواځې او یواځې د دوی په پیاوړو متو، ویښ احساس او نه ستړي کېدونکي جد او جهد کې نغښتی او د همدغو مسلکي او تخنیکي زده کړو له امله کېدای شي په ډېرو برخو کې د افغانستان انکشافي اهداف تر لاسه شي.

د دې نصــاب له ټولو لیکوالانو، مولفینو، ژباړونکو، ســموونکو او تدقیق کوونکو څخه د امتنان تر څنګ، په دې بهیــر کــې د ټولو کورنیو او بهرنیو همکارانو له مؤثرې ونډې او مرســتو څخه د زړه له کومې مننه کوم. له درنو او پیــاوړو اســتادانو څخه رجامندانه هیله کوم چې د دې نصــاب په ګټور تدریس او فعاله تدریب سره دې د زړه په ټول خلوص، صمیمي هڅو او وجداني پیکار خپل ملي او اسلامي نقش ادا کړي.

د نېکمرغه، مرفه، پرمختللي او ویاړمن افغانستان په هیله

**فاروق وردګ**

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| څپرکي | سرلیکونه | پاڼې |
|---|---|---|
| لومړی | د لګښت د سنجونې مهم اصطلاحات | ۱ |
| دویم | د لګښت سنجونې عمده اساسات | ۱۷ |
| درېیم | په تجارتي موسساتو کې د مصارفو سنجونه | ۲۹ |
| څلورم | په صنعتي شرکتونو کې د لګښتونو د سنجونې طریقې | ۴۱ |
| سرچینې او اخیستنې | | ۶۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مقدمه**

د لوی او بې مثاله خدای په نامه چې قلم او ژبه یې د صفاتو د ستاینې ځواک نه لري.

په ورځنیو شرایطو کې د اقتصاد او تصدیو له ستونزو څخه یوه هم د تصمیم نیونې موضوع ده. ځکه د تصمیم نیونې موضوع تر ډېره ځایه په دقیقو او سمو اسنادو او مدارکو پورې اړه لري، چې د تصدیو آمرین د دقیقو او سمو اسنادو او مدارکو له مخې کولای شي سمه او پریکنده پریکړه وکړي. البته دغه اسناد او مدارک له حسابي شعبو څخه تر لاسه کیږي چې په تصدي کې د اقتصادي امورو د تطبیق مسؤلیت لري. د دقیقې محاسبې نه شتون، د مصارفو د سنجش یا اټکل نشتوالی، د بیلانسونو او دقیقې احصایې نه شتون د شرکت مسؤلین له ستونزو او تیروتنو سره مخ کوي.

که چیرته د تصدي آمرین پوه نه شي چې د هغوی د امتعې ټمام شوی قیمت څومره دی نو د تصدی د پراختیا او نرخ ټاکلو په اړه ټول سیاستونه یې له نیمګړتیاؤ سره مخ کیږي او شرکت د خپلو داخلي او باندنیو سیالانو په مقابل کې کمزوری کیږي. نو په دې اساس د محاسبې تر څنګ د ټمام شوي قیمت د پیدا کولو لپاره د مصارفو د سنجش د شعبې لپاره د احصایې او پلانګذاري شتون هم ضروروی ګڼل کیږي.

اقتصادي سنجشونه او د مصارفو سنجشونه په ټولو تجارتي او تولیدي تصدیو کې ضروري ګڼل کیږي او د مصارفو سنجش د تجارت د ژبې په څیر اهمیت لري. همدا شان د مصارفو د سنجش د مضمون له مرستې څخه پرته د نورو محاسبوي یا مالی درسونو پر مخ وړل یو ستونزمن کار ګڼل کیږي. څنګه چې ورته مضمون ته په بانکونو، تجارتخانو، د مالیې وزارت په مالي برخو او په عامه توګه په ټولو مالي چارو کې اړتیا ده، نو له همدې کبله مو د ورته کتاب په چمتو کولو لاس پورې شو. دغه کتاب نه یوازې د مالي مسلکي انستیتیوتونو لپاره ګټور دی، بلکې په نورو برخو کې هم ترې استفاده کیدی شي.

**په درناوي**

عبدالجبار قیومی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کتاب ټولیزه موخه:**

د منجمنټ، مالی او اقتصادي څانګو د زیاتو محصلینو لپاره چې څنګه د حسابدارۍ په اړه معلومات تر لاسه کړي او همدا رنګه هغه وارزوي او په اساس يې تصميم ونيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لمړی څپرکی

## د لګښت سنجونې مهم اصطلاحات

**تولیزه موخه:**
د لګښت سنجونې د مفهوم او اصطلاحاتو د درک وړتیا رامنځته کول.

**د زده کړې موخې:** د دې فصل په پای کې له محصلینو څخه تمه کیږي چې:

- د مخارجو ډولونه و پیژني.
- د مصارفو مفهوم و پیژني.
- د عوایدو مفهوم و پیژني.
- د استهلاک مفهوم و پیژني.
- د شرکت یا تصدې د پایلې مفهوم و پیژني.
- د مصارفو د مواضعو یا د مصرف دځای مفهوم و پیژني.

**مخارج:** د یوه شرکت د یوې ځانګړې دورې پرداختونه چې نتیجوي تاثیرات لري، د مخارجو په نامه یادیږي. په بل عبارت د (کار، ځمکې، سرمایې او غوره مدیریت) په څیر د تولید د عواملو د تهیې او چمتو کولو په موخه په یوه معینه دوره کې له شرکت څخه د نغدو پیسو وتل یا خارجیدل د مخارجو په نامه یادیږي. په مالي محاسبه کې مصرف یا لګښت هم د مخارجو په نامه یادیږي.

مخارج د پیسو په دود د شیانو او خدمتونو له ارزښت څخه عبارت دي. د تصدي په اقتصاد کې د یوې حسابې دورې لپاره د مخارجو اصطلاح د مفاد او ضرر په حساب کې استعمالیږي او د مصرف اصطلاح د مصارفو د سنجش په حسابونو کې استعمالیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوه شرکت مخارج په لاندې ډولونو ویشل شویدي:

**الف – د فعالیت مخارج:** پدې ډله کې هغه مخارج شاملیږي چې د شرکت په اصلي یا فرعي کار پورې تړاو ولري ، چې په ورته مخارجو کې لاندې مخارج شامل دي:

- د فعالیت د جریان په ترڅ کې را منځته شوي مخارج.
- هغه مخارج چې د شرکت د فعالیت په دورې پورې تړاو نلري.

دا هغه ډول مخارج دي چې له پخوانیو دورو څخه تثبیت شوي وي خو د نوي فعالیت په دوره کې حسابیږي، لکه پخواني مالیات، پخواني استهلاکات، د پخوانیو ترمیماتو لپاره سنجول شوي مصارف او داسې نور چې اصلاً په روانه دوره پورې تړاو نلري. همدا شان هغه مخارج هم په ورته کتګورۍ کې ځای نیسي چې په غیر عادي توګه منځته راغلي وي لکه د بیمي له درکه غیر عادي خسارات، د اسعارو د نرخ د نوسان یا ټیټ او پاس له درکه غیر عادي خسارات او د ثابتي سرمایې یا پانګي د ځیني برخو د پلور له کبله منځته راتلونکي خسارات چې د غیر عادي یا فوق العاده مخارجو په نامه یادیږي.

**ب – د شرکت خارجي مخارج:** پدې جمله کې هغه مخارج شاملیږي چې د شرکت له اصلي او فرعې فعالیت سره تړاو نه لري او هدف ته د شرکت د رسیدلو په لاره کې ځانګړې خدمت نه کوي. ورته مخارج هم په لاندې برخو ویشل شویدي:

۱- هغه مخارج چې دفعالیت له دورې سره تړاو لري، خو له شرکت سره کومه اړیکه نلري، لکه د هغو املاکو لپاره پولي مصارف یا لګښتونه چې ګټه ترې نه اخستل کیږي یا د اعانې او بخشش لپاره مصارف.

۲- هغه مخارج چې د فعالیت له دورې او شرکت سره کوم تړاو نلري. مثلاً د هغو املاکو د پلور له درکه د مخارجو را منځته کیدل چې په شرکت کې ترې استفاده نه کیدله. ورته مخارج چې د فعالیت له دروې سره تړاو نه لري د فوق العاده مخارجو او یا بیطرفه مخارجو په نامه یادیږي.

نو په دې توګه ویلای شو چې د فعالیت د یوې دورې مجموعي مخارج د شرکت له مخارجو او ازادو مخارجو څخه تشکیلیږي.

پرداخت چې د پیسو د راکړې ورکړې په معنا ده، د پیسو له هغې ټولې ورکړې څخه عبارت دی چې په نغدې یا کتبي توګه د شرکت له لوري ورکول کیږي.

د مصارفو او پرداخت تر منځ د تناسب په برخه کې ویلای شو چې پولي پرداخت د استهلاک یا امتعې د مصرف او د خدماتې کارونو مقیاسي معیار ګڼل کیږي. که چیرته مصارف یوې دورې (یوې میاشتې) ته منسوب کړو، په دې صورت کې لیدل کیږي چې د امتعې مصرف او استهلاک له ورکړل شویو پیسو سره معادل دی ، او په دې توګه محاسبه کیږي.

که چیرته د تولید په جریان کې له استعمال او مصرف څخه مخکې د جنسي امتعې او د کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فعالیت لپاره کوم پرداخت را منځته شي نو پکار ده چې یاد شوی پولي پرداخت معین شي. څکه د وخت له مخې یې تحدید له یوه پلوه د موجوداتو یا شته سرمایوي توکو په دفتر کې د ثبت په واسطه او له بله لوري په انتقالي دفاترو او تحدیدي دفاترو کې قید کیږي.

د موقتي حسابونو تحدید د وخت له مخې په موقتي توګه صورت نیسي چې پولي پرداخت د فعالیت له دورې څخه مخکې صورت نیولای وي. د مثال په ډول د کرایې پیشکي ورکړه، د ترمیماتو ربع او داسې نور په موقت ډول صورت نیسي چې په حسابې دوره کې له ثالثو اشخاصو څخه کار اخستل کیږي ، خو پولي تادیه او ورکړه یې په راتلونکي کې صورت نیسي ( نا ور کړل شوې مزد، کرایه، حق العمل، مالیه او داسې نور اقلام چې تادیه کیږي ، یا وارده شوي خساره چې په راتلونکي کې تادیه کیږي یا د ترمیماتو مبالغ چې تر اوسه پورې نه دي اجرا شوي)

د تادیاتو یا پولي پرداختونو او مصارفو د محاسبې په مورد کې لاندې مقرره یا اصل په نظر کې نیول کیږي:

د هرې دورې پولي پرداخت باید د هغې حسابي دورې په اړوند دفاترو کې ثبت شي چې ورته پرداختونه پکې منځته راغلي وي.

**لګښتونه**

لګښتونه له هغې امتعې او خدماتو څخه د استفادې ارزښت ته ویل کیږي چې د تولید په موخه په کار اچول شوي وي.

**الف- د لګښتونو ارزښتي تعریف:** په یوه دوره کې د شرکت د فعالیتونو په موخه د استعمال له کبله د جنسي امتعې، شیانو، خدماتو او دولتي فعالیتونو د استهلاک پولي ارزښت د مصارفو په نامه یادیږي.

**ب- د لګښتونو تادیوي تعریف:** د پلور او تولید په موخه د شرکت له لوري په یوه معینه دوره کې د پیسو تادیه او ورکول د مصارفو په نامه یادیږي. د ورته تعریف له مخې د قروضو یا پورونو د تادیې او اعطا په موخه د پیسو له ورکولو پرته نور ټول پرداختونه او تادیات د شرکت له مصارفو څخه عبارت دي.

د مخارجو، پرداخت او مصارفو تر منځ توپیرونه د لاندې مثالونو په واسطه روښانه کیږي:

**مثال:** فرض کړئ، یو کس یوه ملګري ته د میلمستیا بلنه ورکړه ، د دې موخې لپاره پکار ده چې کوربه سړی د میلمه سړي لپاره غذایي مواد او مشروبات واخلي، چې د یوه پرداخت یا د پیسو د ورکولو په مقابل کې صورت نیسي، خو په ناڅاپې توګه میلمه کس له میلمستیا څخه انکار وکړ، نو ښکاره ده چې په دې صورت کې د میلمه لپاره تیار شوي خواړه او څښاک په مصرف نه رسیږي. نو لید ل کیږي چې پرداخت تر مصرف دمخه صورت نیولای دی. د ورته مثال په وسطه څرګندیږي چې د مصرف او پرداخت په نومونو دغه دوه اصطلاحات یو تر بله څه توپیر لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دوهم مثال:** په دې مثال کې هم یو کس خپل ملګري ته بلنه ورکوي. کوربه کس د میلمه لپاره غذايي مواد او څښاک اخلي ، خو څنګه چې کوربه کس په خپل جیب کې نغدي پیسې نه لري نو د خپلې پیژندګلوۍ له مخې له دوکاندار څخه د اړتیا وړ شیان په پور اخلي.

دا ځل میلمه د ډوډۍ خوړلو لپاره حاضر شو او هغه خوراکونه او څښاک چې د ده لپاره تیار شوي وو، په مصرف ورسیدل ، خو د دغو غذايي موادو او مشروباتو قیمت لا تر اوسه پوري دوکاندار ته نه دی ورکړل شوی، نو لیدل کیږي چې په دې صورت کې مخارج تر پرداخت د مخه واقع شوي دي.

**دریم مثال:** زموږ یو نژدې ملګري له موږ څخه د مالي مرستې غوښتنه وکړه چې یوه اندازه پیسې په پور ورکړو، که چیرته دغه کس ته پیسې په پور ورکړو، نو لیدل کیږي چې په دې صورت کې موږ د پرداخت یا د پیسو د ورکړې عمل تر سره کړیدی. له اقتصادي نظره د قرضې یا پور ورکول یو مصرف نه دی او دغه پرداخت له مخارجو سره کومه اړیکه نه لري او نباید چې د مخارجو په توګه و ارزول شي. ځکه یادې شوي پیسې د مصرف او کوم اقتصادي خدمت لپاره نه دي کارول شوي، کله چې دغه ملګری پیسې بیرته راکوي بیا هم دغه پیسې د کوم عاید په دود نه ارزول کیږي. نو لیدل کیږي چې د مخارجو او پرداخت تر منځ هیڅ ډول اړیکه شتون نلري.

**فعالیت، عاید او حاصل:**

**الف- حاصل:** حاصل له هغه مقدار مال یا خدمت څخه عبارت دی چې د تولید د عامل له درکه یا د تولید د عملیې په ترڅ کې منځته راځي. د مثال په توګه د هغو غنمو مقدار چې په یوه زراعتي یا کرنیز شرکت کې تر لاسه کیږي. په بل عبارت د یوه شرکت د دورې د عمومي پایلې د ارزښت لوړیدل د هغه شرکت د حاصل په نامه یادیږي. د مثال په توګه هغه تولیدات چې د تولید د عواملو د ترکیب له کبله منځته راځي ، د شرکت د حاصل په نامه یادیږي.

**ب – عاید:** عاید د درآمد یا دخل په نامه هم یادیږي خو د نظري اقتصاد د علم په اصطلاح کې عاید د هغه مقدار پیسو له لاسته راوړلو څخه عبارت دی چې د حاصلاتو یا تولیداتو د پلور له درکه د شرکت شتمني ته ور جمع کیږي. د مثال په توګه هغه نغدې یا کتبې پیسې چې د پشپړو شویو توکیو او خدمتونو د پلور له درکه د شرکت په شتمني کې شاملیږي.

**د عاید ډولونه:**

- اضافي عاید
- جاري عاید
- قابل تصرف عاید یا هغه عاید چې مصرف او لګښت یې د شخص په واک او اختیار کې وي.
- کمایي شوی عاید یا د کار در آمد.
- هغه عاید چې د اجارې له درکه تر لاسه کیږي.
- تر لاسه شوی عاید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**فعالیت**

هر عمل، کار او کړنې چې د ګټې د ترلاسه کولو په موخه منځته راغلی وي ، د اقتصادي فعالیت په نامه یادیږي. په بل عبارت: هر هغه څه چې د شرکت د کاري پلان له مخې واقع کیږي د شرکت د فعالیت په نامه یادیږي.

د حاصل او عاید تر منځ توپیر د لاندې مثالونو په واسطه تشریح کیږي:

**مثال:** یوه بزګر غلې دانې کرلې. نو همدغه کرنیزه امتعه د بزګر لپاره د یوه حاصل معنا لري او تر څو چې حاصلات یې نه وي پلورلي، عاید یې نه دی تر لاسه کړی.

کله چې کرنیز حاصلات و پلورل شي، په حقیقت کې یې خپل حاصل په عاید باندې بدل کړی دی. نو ځکه خو ضروري نده چې عاید او حاصل د ورته مفهوم په دود و ارزول شي.

**دوهم مثال:** موږ یوه نجار ته د څو الماریو د جوړولو فرمایش ورکړ او هغه له موږ نه د کار د بشپړیدلو په موخه د یو مقدار پیشکي پیسو غوښتنه وکړه. په دې صورت کې نجار عاید تر لاسه کوي خو لا تر اوسه پورې یې د الماریو په جوړولو باندې پیل نه دی کړی او کوم اقتصادي فعالیت یې نه دی تر سره کړی، نو په دې توګه یې کوم حاصل هم نه دی تر لاسه کړی. ځکه که چیرته نجار د الماری جوړولو په بڼه اقتصادي فعالیت یا د پیسې ورکونکي کس کار تر سره نه کړي، پیسې ورکونکی کس بیرته له نجار څخه خپلې پیشکي پیسې تر لاسه کوي. په دې صورت کې هم لیدل کیږي چې عاید او حاصل یو له بل سره کومه اړیکه نه لري او حقیقې عاید تر حاصل د مخه صورت نه شي نیولای.

**دریم مثال:** بیرته پخواني مثال یعني هغه مثال ته ور ګرځو چې زموږ یوه ملګري له موږ څخه یو څه پیسې په پور غوښتلې، کله چې زموږ دغه ملګری بیرته خپل قرض پرې کوي او موږ ته پیسې را کوي زموږ لپاره د یوه عاید معنی لري خو د قرضې دغه اعاده د حاصل له اصطلاح سره هیڅ ډول اړیکه نه لري ځکه مخکې و ویل شول چې حقیقې عاید تر حاصل او یا د فعالیت تر واقع کیدلو د مخه تحقق نشی موندلای.

**د استهلاک یا Depriciation ډولونه**

استهلاک یا د وسایلو د قیمت ټیټوالی په دوه ډوله صورت نیسي:

بیلانسي استهلاک

سنجشي استهلاک.

پکار دی چې د بیلانسي استهلاک او سنجشي استهلاک تر منځ توپیر په ګوته کړو. بیلانسي استهلاک د تجارت او مالیاتو د قوانیو له مخې سنجش کیږي چې د مالي محاسبې په چوکاټ کې د ثابتو اشخاصو لپاره خورا اهمیت لري. دغه ډول استهلاک د شرکت د مخارجو له ډلې څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمیرل کیږي، پداسې حال کې چې سنجشې استهلاک په یوه معینه دوره کې د یوه شرکت د ثابتې دارایي واقعی کموالی منعکسوي. برآوردې یا سنجشي استهلاک د مصارفو د سنجش په چوکاټ کې د شرکت د هغو وسایلو لپاره سنجول کیږي چې د تولید په موخه په شرکت کې ضروري وي.
د مثال په توګه: د افغانستان د مالیاتو په اصولنامه کې تعین شوي ده چې د ماشین عمر 20 کاله او استهلاک یې 5% ده. که چیرته د ماشین قیمت 150000 وي ، نو بیلانسي استهلاک یې له لاندې مبلغ څخه عبارت دی:

15 0000 - 100%

x - د استهلاکي بیلانس مبلغ -5%

$$\text{د استهلاک مبلغ} = \frac{150000\times5}{100} = 7500$$

| | | |
|---|---|---|
| Dr | Cr | |
| ډبټ | کریډیټ | مبلغ |
| بیلانسي استهلاک | داستهلاک ذخیره | |
| (23) | (080) | 7500 |

څنګه چې دغه استهلاک بیلانسي هغه ده نو په مصرف پوري کوم تړاو نه لري او پکار ده چې په (۴) (۴۸) کلاس کې ثبت نه شي. ځکه (۴) کلاس په مصارفو پوري تړاو لري ، نو په کار ده چې ورته استهلاک په (۲) کلاس کې په ۲۳ حساب (بیلانسي حساب ) کې ثبت شي. خو که چیرته په شرکت کې تولیدات زیات شي اوماشینونه زیات فعالیت وکړي، طبیعې ده چې د ماشین استهلاک تر 5% لوړیږي او د ماشین عمر کمیږي. د مثال په توګه که چیرته د ماشین استهلاک 8% شي، د سنجشي استهلاک مبلغ یې له لاندې رقم څخه عبارت دی:

150000 -100%

برآوردي یا سنجشي استهلاک - 8%

$$\text{سنجشي استهلاک} = \frac{150000\times 8}{100} = 120000$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

| Dr | Cr | |
|---|---|---|
| ډبټ | کریډیټ | مبلغ |
| سنجشي استهلاک | مقابل حساب | |
| (48) | (28) | 12000 |

| (01) ماشین | |
|---|---|
| D | C |
| -150000A-B | 7500 |

| (23) استهلاک | |
|---|---|
| D | C |
| 080 - 7500 | 987 - 7500 |
| 750 | 750 |

| (080) د استهلاک ذخیره | |
|---|---|
| D | C |
| 7500-999 | 23 -7500 |
| 7500 | 7500 |

| (080) سنجشي استهلاک | |
|---|---|
| D | C |
| 12000-28 | 980-12000 |
| 12000 | 12000 |

| (080) مقابل حساب | |
|---|---|
| D | C |
| 12000-987 | 48-12000 |
| 12000 | 12000 |

| (080) د فعالیتځای نتیجه | |
|---|---|
| D | C |
| 12000-48 | 989-12000 |
| 12000 | 12000 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| (080) ګټه او ضرر | |
|---|---|
| D | C |
| 12000-980 | 987-4500<br>999-7500 |
| 12000 | 12000 |

**د ګټې او ضرر مثال:** احمد د خپلو 5000000 افغانیو په واسطه تجارت پیل کړ. په دغه تجارتي موسسه کې د مالي کال په اوږدو کې لاندې مصارف او عواید واقع شول. په هغه صورت کې د شرکت پایله تر لاسه کړي چې د موسسي د تعمیر قیمت 5000000 او استهلاک یې 10% وي.

۱- د تعمیر د اجارې مصرف 10000
۲- د معاشاتو مصرف 120000
۳- د حمل ونقل مصرف30000
۴- د تجهیراتو مصرف 21000
۵- د بیمې مصرف 68000
۶- د برق مصرف 5000
۷- متفرقه مصرف 150000
۸- د پېر مصرف 2200000
۹- د پلور عواید 3200000
۱۰- د تکتانې عواید 200000

| D نفع او ضرر | C |
|---|---|
| د تعمیر د اجارې مصرف 100000 | د خرڅلاو عواید 3200000 |
| د معاشاتو مصرف 120000 | تکتانه عواید 200000 |
| د حمل او نقل مصرف 30000 | تکتانه200000 |
| د استهلاک مصرف 500000 | |
| د تجهیزاتو مصرف 21000 | |
| د بیمې مصرف 68000 | |
| د بریښنامصرف 5000 | |
| متفرقه مصارف 150000 | |
| 3400000 | 3400000 |

د فیصدي نرخ × د تعمیر قیمت = د استهلاک مقدار

$$\text{د استهلاک مقدار} = \frac{۱۰x۵۰۰۰۰۰۰}{۱۰۰} = ۵۰۰۰۰۰$$

۵۰۰۰۰۰ = استهلاک شوی مبلغ

**براورد:**

د یوه محصول د مجموعې تمام شد قیمت د سنجش سیستم ته براورد ویل کیږي. هغه اجزا چې د تمام شد مصرف مجموعه تشکیلوي له خامو موادو او یو مقدار ثابتو مصارفو څخه عبارت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دمثال په توګه:** موږ غواړو د یوه دریم کس لپاره کور ودان کړو. د کور له جوړولو مخکي د کور د جوړولو مصارف په نظر کې نیول کیږي، سنجش او ارزونه یې کیږي، چې دغه مقدماتې چاره د کور د مصارفو د براورد په نامه یادیږي.

**د شرکت نتیجه:**

د شرکت پایله یا نتیجه د ارزش له مخې د حاصلاتو او مصارفو تر منځ له توپیر څخه عبارت دی. که چیرته دغه پایله مثبته بنه ولري نو د شرکت د ګټې څرګندونه کوي او که چیرته منفې بنه ولري د شرکت زیان یا تاوان په ګوته کوي.

**د مثال په توګه:** د احمد شرکت په یوه مالي دوره کې د ۴۵۰۰۰۰۰ افغانیو د پکار اچولو له درکه د ۵۰۰۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت حاصلات تر لاسه کړي دي، معلومه کړئ چې شرکت ګټه کړیده او که یې زیان لیدلی دی؟

**مثال:** د محمود تصدۍ د خپل فعالیت په یوه دوره کې ۵۰۰۰۰۰۰ افغانۍ مصرف وکړ چې له کبله یې د ۴۵۰۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت حاصلات لاسته راوړل. معلومه کړئ چې شرکت ګټه کړې ده او که یې تاوان کړی دی؟

Principle یا پرانسیپ چې د اصل یا مبدا او یا کلي قاعدې په معنا ده.

**د مصارفو د سنجش پرنسیپونه:** هر علم خپل ځانګړي اساسات لري ، په دې توګه د مصارفو سنجش هم خپل ځانګړي پرنسیپونه لري چې ځیني یې په لاندې ډول مطالعه کیږي:

**د مصارفو د ایجاد پرنسیپ:**

د مصارفو د ایجاد پرنسیپ د مصارفو د توزیع له مهمو پرانسیپونو څخه ګڼل کیږي. د تصدي د اقتصاد په علم کې دغه پرنسیپ په بیلابیلو ډولونو تعریف کیږي.

د خپل محدود مفهوم له مخې د مصارفو د ایجاد پرنسیپ په هغو تولیداتو باندې د مصارفو د ویش معنا پیاده کوي چې له کبله یې د غه مصارف منځته راغلي دي.

دغه پرنسیپ له دې کبله محدود پرنسیپ ګڼل کیږي چې له مخې یې یوازې تولیدات د مصارفو د ایجاد عامل ګڼل کیږي. په ځانګړي توګه د مصارفو د ایجاد د پرانسیب په بحث کې د امتعې د استهلاک مقدار د مصارفو په ایجاد کې تر ټولو موثر عامل ګڼل کیږي چې له هغه پرته تولیدات منځته نه شي راتلای. د دغه پرانسیپ په اساس د استهلاک شوي امتعې ارزش چې په تولید کې ترې استفاده شویده، په تولید شوي امتعې باندې ویشل کیږي.

د خپل پراخ مفهوم له مخې د مصارفو د ایجاد پرنسیپ توضیح کوي چې مصارف باید د هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د موثرو عواملو په  مقدار باندې  و ويشل شي. د دغه پرانسيپ له مخې  د مصارفو موثر عوامل د کار له مقدار، وخت، تشديد او  د فرمايش له مقدرا څخه عبارت دي.

**مثلاً  که چيرته د مصارفو تابع  په لاندې ډول وي:**

$$Kt = f(x) + 10 \times 200$$

يعني د توليد مقدارله 200 =tx څخه عبارت وي، په دې صورت کې د دورې مجموعي مصارف له لاندې رقم څخه عبارت دي:

$$Kt = 500 + 10 \times 2000$$
$$= 500 + 20000 = 20500$$

**پدې ځای کې:** د دورې مجموعي مصارف kt او د توليد مقدار xt دی.

ټول مستقل  يا غير وابسته متحول  عوامل  د مصارفو د تابع   د مجموعې مصارفو د ايجاد کونکي کميت په توګه پيژندل کيږي او د مصارفو د تعينونکو کميتونو  يا د مصارفو  د موثرو کميتونو په حيث پيژندل کيږي. لکه مخکې چې و ليدل شول،  د پراخ مفهوم له مخې د ايجاد د پرانسيپ په اساس د ورته مصارفو توزيع  د مصارفو د تيوري اړوند معلوماتو ته هم اړتيا لري.

**متناسب پرنسيپ**

د مصارفو يوه ستره برخه  د مصرف په حامل باندې په مستقله توګه نه سنجش کيږي چې دغه ډول مصارف د مصرف د حامل ګډ مصارف بلل کيږي.   د مصرف په حامل  او مواضعو باندې  د ورته مصارفو د توزيع په  موخه  حتی المقدور  د مصارفو دمواضعو  د مشترکو مصارفو له پرينسيب څخه  په استفادې سره دغه مصارف په متناسب ډول د معين نسبتي کميت په واسطه د مصارفو په مواضعوباندې ويشل کيږي.  د دغه نسبتي کميت په واسطه بايد د مصارفو د مواضعو محصولات اندازه ګيري شي چې  دغه نسبت د کليد د کميت په نامه هم ياديږي.  د مصارفو په حامل باندې د مواضعو د  مصارفو د توزيع په موخه بايد د مصارفو  د هرې موضع  لپاره يو معيار وټاکل شي چې د مصارفو له مواضع سره متناسب وي. په بل عبارت د هغه کميت او تغير  بايد د مشترکو مصارفو له کميت او تغير سره تطابق ولري.

د مصارفو په حامل او مواضع باندې د مصارفو د توزيع په موخه کولای شو له مقداري کميتونو، وزني کميتونو، تخنيکي کميتونو او ارزشي کميتونو څخه د معياري کميت په توګه استفاده وکړو.

**د ورته والي پرنسيپ:** د توليد د عواملو په کار اچول  تر ډيره ځايه په پريکړو او  تصاميمو پوري اړه لري.  مصارف هغه وخت په معينو محصولاتو باندې ويشل کيږي چې دغه مصارف او محصولات په ورته تصاميمو باندې اتکا ولري، يعنې د دغه پرانسيپ يوازنۍ مشخصه د مصارفو او محصولاتو د تصاميمو له وحدت يا تشابه څخه عبارت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**له فعالیت سره سم پرنسیپ (محصول):** د دغه پرنسیپ په اساس د تولید شویو محصولاتو مصارف د ورته پروسې عناصر دي. د دې پرانسیپ مطابق کولای شو د تصدي د مجموعې محصولاتو او مجموعې مصارفو تر منځ یوه اړیکه ایجاد او تثبیت کړو. د مجموعې مصارفو ونډه چې اندازه ګیري کیږي، په دې معنا چې په زیات محصول باندې د زیاتو مصارفو حجم سنجش کیږي، په متجانسو محصولاتو کې د هر محصول د مصرف ونډه په اسانۍ سره سنجش کیږي. که چیرته برعکس محصولات غیر متجانس وي، کولای شو د سهم د کلید له مخې د هر تولید مصارف تر لاسه کړو.

**وسطي پرنسیپ:** د دې پرانسیب مطابق مشترک مصارف په هر یوه محصول او یا نورو نسبتي کمیتونو باندې په وسطي توګه ویشل کیږي. پرته له دې چې د مصارفو ایجاد په نظر کې و نیول شي، په هر یوه محصول یا د مشترکو مصارفو یه لګښتونو په کمیتونو باندې په متناسبه توګه ویشل کیږي،.

**د حمل وړ پرنسیپ:** پدې صورت کې مصارف د هر تولید د حمل یا لیږد په اساس د مصارفو په حامل باندې ویشل کیږي. د تولیداتو د حمل د قابلیت معیار د هغوی له خالص مفاد څخه عبارت دی. په هره اندازه چې د تولید خالص مفاد زیات وي، په هماغه اندازه یې د تولید دمصارفو ونډه هم زیاته وي. په دې ځای کې باید دې ټکي ته پام وشي چې دغه وسطي پرنسیپ هغه وخت استعمالیږي چې د مصارفو د ایجاد پرانسیپ د تطبیق وړ نه وي.

**تخفیف Discount:** هغه مبلغ یا پیسې چې له یوه تادیه کیدونکي مبلغ څخه کمیږي د تخفیف په نامه یادیږي.

**د تخفیف ډولونه**

تجارتي تخفیف یا د قیمت تخفیف

دغه ډول تخفیف په اساسي قیمت کې یو ډول کموالی دی چې د فیصدي په دود وضع کیږي. له تجارتي تخفیف څخه د کار اخستلو په صورت کې صانعین او مقاطعه کاران په دې نه مجبوریږي چې د بازار د قیمت د بدلون له کبله د قیمتونو کتلاک تجدید کړي. ځکه وارد شوی تغیر د نشر شوي تجارتي قیمتونو د فیصدي په اساس سنجول کیږي.

**مقداري تخفیف:** دغه ډول تخفیف د اخیستل شوي مال د مقدار له مخې وضع کیږي او د پلورونکي له لوری پیرودونکي ته د اخیستل شوي مال د مقدار له مخې ورکول کیږي.

**مالیاتی تخفیف:** د دې دلیل له مخې چې ګواکي مالیه په سمه توګه نه ده وضع شوي د قانون ګذار د هدایت او اجازي له مخې د مالیې تقلیل ته ویل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تنزيل:** تنزيل له هغه مبلغ څخه عبارت دی چې په عاجله توګه د قرض د تر لاسه کولو له کبله وضع کيږي. په بله وينا تنزيل له هغه مبلغ څخه عبارت دی چې د حجت او يا د هغه د نظايرو په څير د وجهې د تجارتي اسنادو په بدل کې د رسيدلو تر وخت د مخه د نغدو پيسو د تر لاسه کولو له درکه وضع کيږي. که چيرته د وجهې قيمت او د بازار د قيمت تر منځ توپير شتون و لري او وجهې قيمت يې د بازار د قيمت په پرتله لوړ وي ، د تنزيل په نامه يادېږي.

**د ارزښت تنزيل:** د بل ملت د پيسو په مقابل کې د يوه ملت د پيسو د ارزش کموالی يا تنزيل ته د ارزش تنزيل ويل کيږي. دغه ډول ارزشونه يا د تبادلې نرخ عموماً په اختياري توګه واقعې ارزښت ته له پاملرني پرته تعين کيږي او امکان شته چې په خپله خوښه سره تغير ورکړل شي.

**اضافي تنزيل:** ځيني وخت له يوه بيجک يا (invoice) څخه په نغدې تنزيل برسيره يو اضافه تنزيل اخستل کيږي چې اضافې تنزيل ور ته ويل کيږي.

**تجارتي تنزيل:** تجارتې تخفيف هغه ډول تخفيف ته ويل کيږي چې د فيصدي په اساس حسابيږي. کله چې له ورته ډول تخفيف څخه کار واخستل شي، اخستونکي نه مجبوريږي چې د قيمتونو فهرست د بازار دقيمت د تغير له اثره تجديد کړي. دغه اصطلاح له (trade discount) سره مترادفه ده.

**نغدي تنزيل:** دا هغه ډول تخفيف دی چې تر موعود وخت مخکې د تاديې په صورت کې عملي کيږي. دمثال په توګه که چيرته يو مال د ديرشو ورځو لپاره په قرض ورکول شوی وي او ژمنه شوي وي چې که پيسې تر ديرش ورځي دمخې تاديه شي نو دوه فيصده تخفيف به ورکول کيږي.

**مکررتنزيل:** مکرر تنزيل د تجارتي اسنادو هغه تنزيل ته ويل کيږي چې مخکي هم تنزيل شويدي. دغه اصطلاح معمولاً د تجارتې بانکونو په برخه کې زياته استعماليږي چې په مرکزي بانک کې زخيره لري او خپل اسناد د خپلو مشتريانو د تقاضا رد لرې کولو په موخه په مرکزي بانک کې تنزيل کوي.

**فاحش تنزيل اضافي ربع:** له ربحې پرته له قانون څخ په ډير لوړ نرخ د يوه حجت تنزيل کولو ته **فاحش تنزيل** ويل کيږي.

**د مصارفو د مواضعو سنجش:** کله چې ټول فعاليت ځايونه يا شرکتونه په شعباتو تجزيه شوي وي او مشترک مصارف د يوه معين کليد په اساس په هغو مواضعو چې په هغو کې منځته راغلي وي، و ويشل شي، دغه پيښه د مصرف د مواضعو د سنجش په نامه يادېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مصارفو د مواضعو د سنجش اهداف او مفهوم**

د مصارفو د مواضعو په سنجش کې د تصديو په هغو شعباتو باندې د مصارفو د هغو مختلفو ډولونو د توزيع په هکله معلومات تر لاسه کيږي چې په يوه اقتصادي دوره کې منځته را غلي وي د مصارفو د مواضعو په سنجش کې د توليد ګډ مصارف د مصارفو په هره موضع باندې په مستقيم ډول او يا د مصارفو د کليد په مرسته توزيع کيږي.

**د مصارفو د مواضعو ډولونه**

۱- د عمومي مصارفو مواضع
۲- د توليدي مصارفو مواضع
۳- د موادو د مصرف مواضع
۴- د پلور د مصارفو مواضع
۵- د اداري مصارفو مواضع

**د مصارفو حامل**

هر صنعتي توليد د خامو موادو له استخراج يا پيرلو څخه پيل کيږي. دغه استخراج شوي يا اخستل شوي مواد له نورو مرستندويه او محرکو موادو سره يو ځای د نيمايي بشپړتيامرحله تکميلوي او بلاخره په بشپړو يا تکميل شويو موادو بدليږي او پلور ته اماده کيږي. څنګه چې په دې بهير کې بيلابيل مصارف واقع کيږي، نو ويل کيږي چې د مصرف حامل له هغه مصرفي بهير څخه عبارت دی چې په ترڅ کې يې توليدات د پلور وړتيا تر لاسه کوي.

**د مصارفو دحامل سنجش**

هغه مهمه پوښتنه چې د مصارفو د حامل له ارزوني سره په تړاو مطرح کيږي، دا ده چې حامل دکومو مصارفو لپاره منځته راغلی دی. د مصارفو د سنجش اخري مرحله د مصارفو د حامل له سنجش څخه عبارت دی. د مصارفو د حامل په سنجش کې د هغو مصارفو بيلابيل ډولونه په هغو مختلفو توليداتو باندې ويشل کيږي چې د مصارفو د ډولونو په سنجش کې تثبيت شوي او د مصارفو د مواضعو په چوکاټ کې د يوه شرکت په اخري مواضع باندې توزيع شوي وي. د مصارفو حامل د شرکت له هغه فعاليت څخه عبارت دی چې منځته راتګ يې د امتعې او خدماتو د استهلاک مواجب ګرځي او په پايله کې همدغه مصارف حمل کوي.

**د مصارفو د حامل د سنجش مهمې دندې:**

د قيمت د سياست په برخه کې معلومات.
د اخيري توليداتو د زيرمي ارزيابي
د پلان او کنترول د سنجش اساس

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې دورې د ارزول شویو پایلو د سنجش تثبیت.

د پلور او تولید د پروګرام په برخه کې معلومات برابرول.

**د لمړي څپرکي د مطالبو لنډیز**

**مخارج:** د پیسو په بڼه د شیانو او خدماتو له ارزښت څخه عبارت دی چې په یوه حسابي دوره کې سنجش یا کیږي چې د فعالیت مخارج، د شرکت داخلي مخارج، د شرکت خارجي مخارج او فوق العاده مخارج یې ډولونه ګڼل کیږي.

**پرداخت:** د یوه شرکت له لوري د نغدو او کتبې پیسو ورکولو ته پرداخت ویل کیږي.

**مصارف:** مصارف د امتعې او خدماتو استفادوي ارزښت ته ویل کیږي چې د تولید په موخه تري استفاده شوي وي. ثابت مصارف، متحول مصارف، مشترک مصارف او داسي نور یي له ډولونو څخه عبارت دی.

**حاصل:** له هغه مال یا خدمت څخه عبارت دی چې د تولید له عملیې او د تولید د عواملوله ترکیب څخه تر لاسه کیږي. د غنمو مقدار، د موټرونو شمیر او داسي نور یې اړوند بیلګې ګڼل کیږي.

**عاید:** عاید د درآمد په معنا ده چې دخل هم ورته ویل کیږي. د نظري اقتصاد په اصطلاح کې عاید د هغه مقدار پیسو له لاسته راوړلو څخه عبارت دی چې د حاصلاتو یا خدماتو د پلور له درکه شرکت ته داخلیږي. اضافه عاید، خالص جاري عاید او داسي نور یې مثالونه دي.

**فعالیت:** هر عمل، کار او اقدام چې د ګټي د لاسته راوړلو په موخه تر سره شي، اقتصادي فعالیت ګڼل کیږي. تولیدي فعالیت او خدماتي فعالیت یې د اړوند مثالونو د بیلګې په دود وړاندي کولای شو.

**استهلاک:** د استعمال ، طبیعې تاثیراتو او داسې نورو له کبله د یوه توکي د قیمت ښکته والی د استهلاک په نامه یادیږي.

**برآورد:** د یوه بشپړ شوي محصول د مجموعي تمام شد قیمت د سنجش له سیستم څخه عبارت دی. مثلاً د تجارتي او تولیدي اجناسو برآورد او داسي نور.

**د شرکت نتیجه:** د ارزښت له مخې د حاصلاتو او مصارفو تر منځ ته د شرکت پایله یا نتیجه ویل کیږي، لکه نفع او ضررر.

**پرانسیپ:** پرانسیپ د یوې مشخصې موضوع د کلي قاعدې یا اصولو او مبدا په معنا ده ، لکه اقتصادي پرانسیپ، د مصارفو د سنجش پرانسیپونه او داسې نور.

**تخفیف:** هغه پیسې چې له تادیه کیدونکي مبلغ څخه کمیږي، د تخفیف یا discount په نامه یادیږي.

**تنزیل:** تنزیل د هغو پیسو مقدار ته ویل کیږي چې د عاجلې تادیې له درکه له یوه قرض یا برآت څخه وضع کیږي لکه د ارزښت تنزیل، اضافي تنزیل، مقداري تنزیل او داسي نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مصارفو د مواضعو ســنجش:** مشــترک یا ګډ مصارف د یوه کلید له مخې په تجزیه شــویو مواضعو باندې چې منځته راغلي دي، ویشــل کیږي چې دغه پړاو د مصارفو د مواضعو د ســنجش په نامه یادیږي.

**د مصرف حامل:** له هغو تولیداتو څخه عبارت دی چې و پلورل شي.

## د لمړي څپرکي پوښتنې

۱. مخارج تعریف او له مثال سره یې توضیح کړئ؟

۲. مصارف تعریف او له مثال سره یې توضیح کړئ؟

۳. د حاصل او عاید تر منځ څه توپیر دی؟

۴. فعالیت تعریف کړئ؟

۵. استهلاک تعریف کړئ؟

۶. د استهلاک د ډولونو نومونه واخلی؟

۷. برآورد څه ډول صورت نیسي، په دې هکله معلومات ورکړئ؟

۸. د شرکت نتیجه څه وخت د ګټې او  څه وخت د ضرر لامل ګرځي؟

۹. د مصارفو د سنجش د پرنسیپونو د ډولونو نومونه واخلئ؟

۱۰. ایا تجارتي تخفیف په محاسبه کې ثبتیږي؟

۱۱. هغــه نغدې تخفیف چې د شرکت له لوري مشــتري ته ورکول کیږي، په محاســبه کې په کریډیټ لوري کې ثبت کیږي او که په ډبټ لوري کې؟

۱۲. د مصارفو د حامل سنجش څه شی دی؟

۱۳. هغه تخفیف چې د مشتري له لوري تصدي ته ورکول کیږي، ډبټ دی او که کریډیټ  دی؟

۱۴. د مصارفو د مواضعو سنجش څه شی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی

## د لګښت سنجونې عمده اساسات

**تولیزه موخه:**
په تجارتي او صنعتي موسساتو کې د لګښت سنجونې د اهدافو، دندو او طبقه بندي په هکله توضیح ورکول.

**د زده کړې موخې:** د دې فصل په پای کې له محصلینو څخه تمه کیږي چې:
- د یوه بشپړ شوي محصول د مجموعي تمام شوي قیمت سنجش سیستم و پیژني.
- د لګښت سنجونې د اهدافو په اړه معلومات تر لاسه کړي.
- د مصارفو د سنجش مهمې دندې تشریح کړای شي.
- د مصارفو د سنجش د کنترول دندې تعریف کړای شي.
- د مصارفو د سنجش د تطبیق د ځای په هکله معلومات ورکړای شي.
- دمصارفو د ډولونو د سنجش مهم پرنسیپونه و پیژني.
- د مصارفو طبقه بندي تعریف کړای شي.

**د مصارفو د سنجش تعریف:** د یوه بشپړ شوي یا تکمیل شوي محصول د مجموعي تمام شوي قیمت د سـنجش سیستم ته د مصارفو سـنجش ویل کیږي. هغه اقلام چې د مجموعي تمام شوي قیمت اجزا تشکیلوي ، د خامو موادو له مصارفو، د هغه کار له مصارفو څخه چې په خامو موادو باندې کیږي او یوه برخه هغو ثابتو مصارفو څخه عبارت ده چې تکمیل شـوي محصولاتي واحد ته تخصیص کیږي.

**تمام شوی قیمت**

تمام شوی قیمت د نظري اقتصاد په اصطلاح کې له هغو ټولو تادیاتو څخه عبارت دی چې یو شرکت یې د اداري مخارجو په شـمول د ځمکې، کار او سرمایې په څیر د تولید د عواملو په بدل کې ورکوي. دغه تادیات د ربح، اجارې، کرایې، مزد او معاش په شکل صورت نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زیاتره مولدو شرکتونو کې د خامو موادو قیمت د هغوی د تمام شوي قیمت یوه برخه ده چې د (material cost) پــه نامه یادیږي. د یوه شرکت مجموعي تمام شــوی قیمت د متغیر تمام شوي مصرف یا (variable cost) او ثابت تمام شوی مصرف یا (Fixed cost) په څیر په دوو برخو ویشل کیږي چې لمړنی هغه یې د تولید له زیاتوالي سره زیاتوالي مومي او دوهم هغه یې تغیر نه مومي او ثابته بڼه لري.

د فې واحد تمام شوی مصرف یا (unit cost) له هغه مصرف څخه عبارت دی چې د یوه واحد محصول د تولید له درکه واقع کیږي چې د تولید د میچې یا اندازې له زیاتوالي سره کمیدلای شي او یا ثابت پاتی کیدی شي.

**د مصارفو د سنجش اهداف:** د مصارفو د سنجش مهمې موخې په لاندې ډول دي:

**۱. د قیمت برآورد او قضاوت:**

د مصارفو ســنجونې یوه مهمه موخه د خرڅلاو او تهیې له بازارونو سره په تړاو د شرکت د قیمت د سیاست د تثبیت په مقصد د معلوماتو له چمتو کولو څخه عبارت دی.

د مصارفو د سنجش له دغې اړیکې څخه په لاندې مواردو کې استفاده کیږي:

**الف:** د تولید شویو محصولاتو د خرڅلاو قیمتونه.

**ب:** د چمتو شویو عواملو د خرید یا پیرلو قیمتونه.

**ج:** د تولیداتو د سنجش قیمتونه چې د شرکت په داخل کې ترې استفاده کیږي.

**۲. د شرکت د پایلې یا نتیجې تثبیت او د موجودیو ارزیابې:**

د مصارفو د ســنجش بله موخه د شرکت د نتیجې او د نیم کاره یا تکمیل شــویو محصولاتو د موجودې له تنظیم څخه عبارت ده.

**۳. د تصامیمو یا پریکړو د سنجش د اساس په توګه د معلوماتو لاسته راوړل:**

د مصارفو د ســنجش بله موخه د تولید او خرڅلاو د طریقو د مقایسي او داسي نور په څیر د شرکت د مهمو تصامیمو په هکله د معلوماتوله برابرولو څخه عبارت ده.

**۴. د اقتصادیت کنترول:**

د مصارفــو د ســنجش بله مهمه موخه د یوه شرکت د اقتصادیت لــه کنترول څخه عبارت ده. د یادونې وړ ده چې د مصارفو په ســنجش کې د اقتصادیت او انعطاف پذیري یا ارتجاعیت د پرنسیپونو په هکله د معلوماتو لرل خورا اړین دي او باید په نظر کې و نیول شي. دغه پرانسیپونه یوله بل سره د رقابت اوسیالۍ په حال کې وي، د مثال په توګه د مصارفو د سنجش اقتصادیت د انعطاف پذیري او دقت له پرنســیپونو سره په رقابت کې وي، نو په دې اســاس ناشونې ده چې په عمل کې سل فیصده تطبیق شي. نو په دې اساس له هغوی څخه باید په شرکت کې په داسي توګه استفاده وشي چې د مصارفو د سنجش مفیدیت پکې تر لاسه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مصارفو د سنجش مهمې دندې:** د مصارفو د سنجش مهمې دندې په لاندې ډول دي:

۱. د مصارفو په سنجش کې د تولید د پکار اچول شویو عواملو د استهلاک کیفیت او د شرکت د فعالیت پایله جوتیږي.

۲. د مصارفو سنجش د مصارفو د تصامیمو په مورد کې مختلف معلومات وړاندې کوي.

۳.د مصارفو په سنجش کې د مهمو عواملو د استهلاکي ارزش په اړه د تصمیم وړاندوینه کیدی شي.

۴. د مصارفو د سنجش د کنترول دنده هم خورا مهمه ده، ځکه په دې توګه پلان شوي او واقعې ارزشونه یو له بل سره پرتله کیږي او په دې توګه په یوه شرکت کې د مصارفو انحراف تثبیت کیږي.

**د مصارفو سنجونې د تطبیق ځای**

د دې لپاره چې د ټمام شد قیمت د ترلاسه کولو موضوع لا په ښه توګه څرګنده شي، پکار ده چې په لمړي قدم کې یې د اقتصاد د علم په داخل کې موقیعت تعین کړو. که چیرته د علومو له تقسیماتو څخه مختلفو دستو ته، خصوصاً د اقتصاد د علم له نورو تقسیماتو څخه د هغه فرعې علومو ته مخه کړو او یوازې تصدې د هغې د فعالیت له مخې تقسیم بندې کړو، په دې صورت کې د مصارفو د سنجش د تطبیق محل په لاندې شرکتونو کې صورت نیسي:

تولیدي شرکتونه.
خدماتي شرکتونه.
تجارتي شرکتونه

**د جنس د تولید شرکتونه:** دا ډول شرکتونه له هغو شرکتو څخه عبارت دي چې د امتعې یا اجناسو د تولید په ساحه کې فعالیت کوي او په دوه ډوله دي.

**الف:** استخراجې شرکتونه چې امتعه په خامه یا اومه توګه استخراجوي، لکه د ډبرو دسکرو معادن، مس، سره زر او داسې نور.

**ب:** د امتعې تولیدي شرکتونه: دا له هغو تولیدې شرکتونو څخه عبارت دي چې امتعه د تکمیل شوي یا کار ټمامه استحصال په توګه وړاندې کوي، یا خام مواد د شکل د تغیر له امله په بشپړه یا تکمیل شوې امتعه باندې بدلوي چې یاده شوې امتعه د خامو موادو په پرتله متفاوت خصوصیات لري.

**۲- خدماتي شرکتونه:** دا هغه ډول شرکتونه دي چې فعالیت یې په خدماتي شکل څرګندیږي او د خدماتو د اجرا دنده لري، لکه بانکونه، مواصلاتي یا ترانسپورتي شرکتونه، د بیمې یا تاميناتو شرکتونه او داسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳- تجــارتي شرکتونه:** تجارتي شرکتونه هغه ډول شرکتو ته ویل کیږي چې د عمومی اقتصاد له نظره د امتعې د توزیع خدمتونه وړاندي کوي او فعالیت یې د شیانو او خدمتونو یا امتعې له پیر او پلور څخه تشکیل شوی وي.

**د مصارفو د ســنجش مهم پرنسیپونه:** د مصارفو د ډولونو په سنجش کې پکار ده چې لاندې پرنسیپونه په نظر کې و نیول شي:

**۱- د وضاحت پرنســیپ:** د دغه پرنســیپ په اســاس باید د مصارفو د ډولونو مجموعه په واضیح توګه تعریف شي.

**۲- د بشــپړوالي پرنســیپ:** دغه پرنسیپ ایجابوي چې د مصارفو د ډولونو په تثبیت کې کومه خلا شتون نه لري او د مصارفو ټول ډولونه باید په بشپړه توګه تثبیت شي.

**۳- له تکرار څخه د مخنیوي پرنسیپ:** د شرکت له مختلفو مصارفو څخه هر یوباید یوازي په یــوه ګروپ پورې منســوب شي او د هغه په چوکاټ کې تثبیــت شي تر څو د مختلفو مصارفو له مکرر تثبیت څخه مخنیوی وشي.

**مصرف: Consuption:** د انساني اړتیاؤ د رفع کولو په موخه د خدماتو یا شیانو استعمال ، یا د تولید په موخه د اموالوله منځه وړلو ته مصرف ویل کیږي. مصرف په یوه دوره کې د یوه شرکت د تولید په پروسه کې د استفاده شوي امتعې د ارزش له ترلاسه کولو څخه عبارت دی.

**مصــارف Expenditure:** د محاســبې د اصطلاح له مخې په یوه دوره کې نغدي لګښــت یا خراجات د مصرف په نامه یادیږي. د دغې اصطلاح او Expense تر منځ توپیر دا دی، چې اخري اصطــلاح غیــر نغدي اقلام او نغدې مصارف چې په یوه تیره دوره کې یې صورت نیولای دی، په بر کې نیسي او په روانه دورې پورې تعلق نیسي، همدا شان هغه اقلام هم په بر کې نیسي چې په جاري یا روانه دوره پورې اړه لري،خو تر اوسه پورې ندي تادیه شوي.

مصــارف د تولید د عواملو له قیمت څخه عبــارت دي چې د تولید په عملیه کې کارول کیږي او په پیسو باندې افاده کیږي.

د مصارفو فورمول: $K=r_{1.}p_1+r_2p_2+\ldots\ldots\ .\ +r_np_n$

د عامل قیمت. . . . . . . + د عامل قیمت (2)+ د تولید د عامل قیمت (1)- مصارف

مصرف - مقدار × د بازار قیمت

$X.k=p$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مصارفو طبقه بندي**

۱- د مصارفو له طبيعي طبقه بندي څخه مقصد څه شی دی؟

په دغه طبقه بندي کې د لمړي ځل لپاره مصارف د صنعتي (توليدي) برخې او د تجارتي ( پير او پلور د برخې د مصارفو په نومونو يو له بل څخه جلا کيږي.

**د صنعتـــي يا توليدي برخې مصارف:** دا هغــه ډول مصارف دي چې په کارخايونو او شرکتونو کــې د امتعــې او حاصلاتو د توليد له درکه منځته راځي. لکــه لمړني مصرفي مواد، د کارگرانو د مزد مصارف او نور توليدي مصارف.

**د تجارتي برخې مصارف:** دا هغه ډول مصارف دی چې د حاصل د توليد له درکه منځته نه وي را غــلي، بلکـــې د اداري ، توزيع او پلــور په څير د نورو فعاليتونو له درکه منځته راځي. معمولاً ورته مصارفو ته تجارتي عملياتي مصارف هم ويل کيږي.

۱. د محصول له توليد سره د تړاو په اساس، د مصارفو له طبقه بندي څخه مقصد څه شی دی؟

په صنعتي محاسبه کې له توليد سره د تړاو په اساس مصارف په دوو برخو ويشل کيږي.

مستقيم مصارف

غير مستقيم مصارف.

**مســـتقيم مصارف يا انفرادي مصارف:** دا ډول مصارف له هغو مصارفو څخه عبارت دي چې د توليد شـــوي توکي د يوه واحد توليد له درکه په مســـتقيمه توگه واقع کيږي او په دقيقه توگه معين کيدلای شي.

له دغه ډول مصارفو سره لاندې درې گروپونه تعلق لري:

تکميلي مواد.

تکميلي مزد.

ځانگړي انفرادي مصارف.

**تکميـــلي مواد:** تکميلي مواد له هغو مـــوادو څخه عبارت دي چې د توليد د يوه معين واحد د تکميل لپاره په مصرف رسيږي. دغه مصارف د توليد او کار له ابتدايي مرحلې وروسته د کار تمام توليداتو يوه برخه احتوا کوي. د مثال په توگه پنبه او وړۍ په نساجي صنايعو کې ، لرگي د موبل سازي په صنايعو کې او داسې نور.

**تکميلي مزد:** تکميلي مزد له هغه مزد څخه عبارت دی چې د معين توکي د يوه واحد توليد لپاره په مستقيمه توگه د سنجش وړ وي.

**ځانگـــړي انفرادي مصـــارف:** د ځانگړيو انفرادي مصارفو عنوان له تکميلي مزد او موادوپرته نور ټول مصارف په بر کې نيسي چې د توليد په يوه معين واحد باندې سنجش کيدلای شي. د ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصارفو تقسیمات په لاندې ډول دي:

**د پلــور ځانګــړي انفرادي مصارف:** دغه ډول مصــارف د ترانســپورټ د ځانګړيو مصارفو، د بارجامې د ځانګړيو مصارفو، د پلور د نماینده د انتقال د حق او په خرڅلاو باندې د مالیاتو په څیر له یو لړ مصارفو څخه عبارت دي.

**مشترک مصارف (مستقیم مصارف):** دا له هغوټولو مصارفو څخه عبارت دي چې په مستقیمه توګه په فې واحد باندې نه شي سنجش کیدلای.

**مشترک مصارف په لاندې ډول دي:**

الف: معاون یا مرستیال مزد.

ب: معاشات.

معاون یا مرستیال مواد.

محرک مواد.

**الــف: معاون مزد یا د مزد مشــترک مصارف:** دا د کار لــه هغه ډول مصارفوڅخه عبارت دی چې په فې واحد تولید باندې په مســتقیمه توګه نه شي ســنجش کیدلای. د مثال په توګه د دربان یا دروازې ساتونکي مزد، د چوکیدار مزد، د مختلفو کمکي کارګرو او د تحویل خانې د کارګر مزد.

**ب- معاشــات:** د اداري او تخنیکي مســتخدمینو لپاره ټول میاشتني تادیات له معاشاتو څخه عبارت دي.

**ج - معاون یا مرســتیال مواد:** مرســتیال مواد له هغو موادو څخه عبارت دي چې د تکمیل د پخوانیو او وروســتنیو کارونو لپاره کارول شــوي وي او د تولید مهمه برخه نه تشکیلوي، لکه میخ، نټ، بولټ، او داسي نور.

**د- محرک مواد:** دا له هغو موادو څخه عبارت دي چې د کار وســایل او ماشــینونه په حرکت راولي ، لکه د ډبرو سکاره، بریښنا، بخار او داسي نور.

پدې برســیره د کارځای د ډول او لویوالي له مخې مشــترک مصارف هم زیات ډولونه لري چې ځیني یې د اجتماعې مصارفو، د فعالیتګاه د مالیاتو، د اشــتهار د مصارفو، کرایې، د اســتهلاک او حقوقې مصارفو او داسي نورو په څیر د یادولو وړ دي.

**د تولید د حجم له توپیر سره د تړاو په اساس د مصارفو طبقه بندي:**

د تولید د حجم له توپیر سره د تړاو په اساس د مصارفو د طبقه بندي موخه څه شی ده؟

په دغه طبقه بندي کې چې پخپله په څلورو ګروپورنو ویشــل کیږي، د مصارفو د تغیر اړیکه د تولید له حجم سره د تړاو په اســاس بر رسي کیږي. باید پوه شــو چې د تغیر د مصارفو یوه برخه په تولید او مقدار باندې کوم اثر نه شي غورځولای ، خو ځینې نورې برخې یې شــته چې په ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقدار او کچه باندې تاثير غورځوي. نو دغو شرايطو ته په کتو سره مصارف په دريو ګروپونو ويشل شوي دي:

**الــف:** ثابت مصــارف: ثابت مصارف له هغو مصارفو څخه عبارت دې چې د توليد د حجم له تغير سره تر يوې مشــخصې سطحې پورې تغير نه کوي. بايد پوه شو چې ثابت مصارف ټولو هغو مصارفو ته ويل کيږي او په دغه کتګوري کې ځای نيسي چې لاندې مشخصات پکې وليدل شي.

لمړی: دغه مصارف د توليد په بيلابيلو سطحو کې ثابت پاتې کيږي.

**دوهــم:** د يوې واحدې امتعې د ثابتو مصارفو ونډه د توليد د کچې له زياتوالي سره کميږي، او برعکس.

**دريم:** د ورته مصارفو د کنترول چارې د اجرايې مديرانو له لوري تر سره کيږي.

د توليد د مديرانو حقوق، د ســاختمان استهلاک، د ماشــين الاتو استهلاک، د تعمير او ماشين الاتــو بيمــه، د کارخانې کرايه او داســې نور د ورته مصارفو يعنې ثابتــو مصارفو د بيلګو په دود نومولای شو.

د ثابتو مصارفو د خصوصياتو د غوره درک په موخه لاندې مثالونه په پام کې و نيسی:

فــرض کړئ د کارخانې د اجارې مياشــتني مصــارف ۱۵۰۰۰۰ افغانۍ دي. په دې صورت کې د اجارې مصارف ثابت دي، په دې معنی چې که يو عدد امتعه توليد شي او که زر عدده امتعه توليد شي، په دغه مبلغ کې کوم تغير نه راځي.

دوهم دا چې د توليد د کچې په زياتوالي سره د فې واحد توليدې توکي يا امتعې سره د ثابتو مصارفو ونډه کميږي. فرض کړئ په ورته صورت کې د کارخانې توليد ۱۰۰عدده دی، نو که غواړو پوه شــو چې د کارخانې له ۱۵۰۰۰۰ اجارې څخه يوه واحد ته څومره مصرف رســيږي ، کولای شو چې ۱۵۰۰۰۰ يعني دکارخانې کرايه په ۱۰۰ توليد شويو توکيو باندې و ويشو چې په پايله کې د هر واحد په سر د ورته ثابتو مصارفو ونډه ۱۵۰۰ افغانۍ کيږي.

اوس کــه چيرتــه په شرکت کــې ۲۵۰عدده امتعه توليد شي ،نو د هر توليد شــوي واحد په سر باندې د ورته ثابتو مصارفو ونډه څومره ده، د پورته کړني يعني (۶۰۰ =۲۵۰: ۱۵۰۰۰۰ ) په ترځ کې معلوميږي چې د هر واحد ونډه ۶۰۰ افغانۍ تعين کيږي.

نو په پورتني مثال کې وليدل شــول چې د توليد شــويو واحدونو د تعداد يا شمير له زياتوالي سره د يــوه واحد پــه سر د ثابتو مصارفو ونډې کموالی موندلای دی، نو تاکيد کيږي چې د توليد په مختلفو سطوحو کې ثابت مصارف ثابت پاتې کيږي خو د توليد د کچې له زياتوالي سره د يوه توليدې واحد په سر د ورته مصارفو ونډه کموالی مومي او برعکس د توليد د کچې له زياتوالي سره د ورته ونډې کچه زياتوالی مومي. نو ويل کيږي چې د ورته مصارفو د ونډې زياتوالی او کموالی د مديريت د اجرايه ډلې په پريکړو او تصاميمو پورې اړه لري.

ب: متغير مصارف: متغير مصارف له هغو مصارفو څخه عبارت دي چې د مبلغ مجموعه يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تولید د سطحې له تغیر او میزان سره تغیر او بدلون کوي. یعني د تولید د مقدار او تولید د حجم له زیاتوالي سره دغه ډول مصارف زیاتیږي او د تولید د حجم له کموالي سره کمیږي، چې مستقیم مزد او مستقیم مواد یې ورته نمونې ګڼل کیږي.

متغیر مصارف هم خپل اړوند خصوصیات لري چې د تشــخیص په موخه یې لاندې ټکي په پام کې نیسو:

**لمــړی:** دغــه ډول مصارف د تولید له مقدر سره مســتقیمه اړیکه لري، په دې معنا چې د یوه تولیدي واحد په سر د ورته مصارفو کچه د تولید د مقدار د کموالي په صورت کې کمه او د تولید د مقدار د زیاتوالي په صورت کې زیاتیژي.

**دوهــم:** که چیرته د تولیــد مقدار زیاتوالی یا کموالي و مومي ،بیا هم د یو واحد امتعې متغیر مصارف ثابت وي.

**دریم:** د تولید په دایره کې په اسانه اوساده توګه تخصیص کیږي.

د مثــال په توګه فرض کــړئ د ۶ پایو میزونو د تولید لپاره څلور مــتر مربع لرګیو ته اړتیا ده، اوس نــو کــه و غواړو ۱۲ پایې میزونه تولید کــړو، حتماً اته متره مربع لرګیو ته چې د تولید لمړني یــا اولیــه مواد ګڼل کیږي اړتیا لیدله کیږي. په دې صورت کې لیدل کیږي چې د تولید د کچې له زیاتوالي سره د تولید د لمړنیو یا مســتقیمو موادو د مصرف کچه زیاتیږي. خو باید په یاد و لرل شي چــې د یوه میــز د تولید لپاره یو نیم متر مربع لرګیو ته اړتیا ده چې هیڅکله هم د تولید د میزان له زیاتوالي سره د تولید مســتقیم مواد تغیر نه کوي، یعني د یوې پایې میز تولید حتماً یو نیم متر مربع لرګیو ته اړتیا لري او له دې نه په لیږو یا زیاتو لرګیو سره ورته میز نشو تولید کولای، نو ویل کیږي چې په یوه واحد تولید کې د مستقیمو موادو مصارف ثابت دي.

**نیمه متغیر مصارف**

ځیني مصارف د ثابتو او متغیرو مصارفو په څیر له دوو برخو څخه تشــکیل شــوي وي. دغه مصارف په داســې شــکل وي چې تر یوه مشخص حد پورې د تولید د زیاتوالي او کموالي له کبله تغیر نه کوي.

**د مثال په توګه:** کولای شــو د فابریکې د مصرفي بــرق مثال رواخلو، پدې ډول چې د فابریکې دصالون د روښانه کولو لپاره مصرف کیدونکی برق د تولید د مقدار په زیاتوالي یا کموالي پوري اړه نلري، یعني که د تولید کچه زیاته وي او که کمه، د فابریکي د صالون د روښانه کولو لپاره هماغه ثابــت مقدار برق مصرفیږي. خو د ماشــین الاتو د چلولو لپاره مــصرف کیدونکی برق د تولید په مقدار پوري مستقیمه اړه لري. یعني که چیرته د تولید مقدار زیات شي نو د مصرف کیدونکي برق مصرف به هم زیات شي او که د تولید مقدار کم شي نو د لیږو ماشین آلاتو د چلولو له کبله به د مصرف کیدونکي انرژي مصرف هم کم شي.

نــو په دې توګه ویلای شــو چې د فابریکې مــصرف کیدونکی برق د نیمه متغیرو مصارفو له ډلې څخه شمیرل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ثابت مصارف په دریو ګروپونو ویشل کیږي:**

د فابریکې د ظرفیت ثابت مصارف

ثابت مصارف (حصول مفاد)

ثابت پلاني مصارف

**د فابریکې د ظرفیت ثابت مصارف:**


د فابریکې د ظرفیت ثابت مصارف هغه ډول مصارف د چې د فابریکې له تجهیزاتو او امکاناتو سره نیغه اړیکه لري. د ماشـــین الاتو، تاسیســـاتو او تجهیزاتو اســـتهلاکي مصارف د ورته مصارفو څرګندې بیلګې دي.


**ثابت مصارف (حصول مفاد)**

دا هغــه ډول مصارف دي چې د تولید د تجهیزاتو له کارولو او حاصل ورکولو سره نیغه اړیکه لري. لکه د بیمې مصارف او داسي نور.


**ثابت پلان شــوي مصارف:** دا هغه ډول مصارف دي چې د فابریکې د مدیره ډلي په تصامیمو پــورې اړه لــري او د راتلونکــي پلانګذاري په برخه کــې منځته راځي. لکــه د تحقیق او څیړنې مصارف، تبلیغاتي مصارف او د بازار موندنې مصارف.

ثابت او متغیر مصارف په لاندي شکلونو کې لیدلای شئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library




**د دوهم څپرکي د مطالبو لنډیز**

۱- د مصارفو سنجش د حسابداري یوه څانګه ده چې د مصرف له عواملو، د محصولاتو او خدماتو د تمام شد قیمت له محاسبې او د تولیداتو د تمام شد قمیت له تقلیل سره په تړاو د معلوماتو د را ټولولو دنده په غاړه لري.

۲- د مصارفو د سنجش موخې په لاندې ډول دي:

- د قیمت برآورد او د قیمت قضاوت.
- د شرکت د نتیجې تثبیت او د موجودي ارزیابي.
- د تصامیمو د سنجش د اساس په توګه د معلوماتو لاسته راوړل.
- د اقتصادیت کنترول.

۳- د مصارفو د سنجش دنده.

د مصارفو په سنجش کې د تولید د عواملو د استهلاک ارزش په کار اچول کیږي او د شرکت پایله تثبیت کیږي.

۴- د مصارفو د سنجش د تطبیق ځای.

تولیدي شرکتونه.

خدماتي شرکتونه.

تجارتي شرکتونه.

د مصارفو طبقه بندي په لاندې ډول ده:

د تجارت د برخې مصارف.

د صنعت د برخې مصارف

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دویم څپرکی پوښتنې**

۱- د مصارفو سنجش تعریف کړئ؟

۲- د مصارفو د سنجش موخې بیان کړئ؟

۳- تولیدي موسسات تعریف او ډولونه یې وښایاست؟

۴- د مصارفو د سنجش په ډولونو کې کوم پرنسیپونه په نظر کې نیول کیږي، نومونه یې واخلئ؟

۵- د مصارفو د طبیعي طبقه بندي موخه څه شی ده، په بشپړه توګه یې تشریح کړئ؟

۶- د تولید له حاصل سره دتړاو په اســاس د مصارفو د طبقه بندي مقصد څه شــی دی، تشریح یې کړئ؟

۷- د تولید له شــمیر او د حجم له تغیر سره د تړاو په اســاس د مصارفو د طبقه بندي موخه څه شی ده، واضیح یې کړئ؟

۸- د ثابتو مصارفو مشخات څه شی دي، له مثالونو سره یې واضیح کړئ؟

۹- متغیر مصارف کوم ډول مصارفو ته ویل کیږي، له مثال سره یې واضیح کړئ؟

۱۰- نیمه متغیر مصارف له یوه مثال سره تعریف کړئ؟

۱۱- د ثابتو مصارفو د ډولونو نومونه واخلئ او یو ډول یې تعریف کړئ؟

۱۲- د ثابتو مصارفو شکل رسم کړئ؟

۱۳- د متغیرو او نیمه متغیرو مصارفو شکلونه رسم کړئ؟

۱۴- د احمــد د فابریکــې د مصارفو مجموعه ۱۵۰۰۰۰۰۰ده ، کــه چیرته په ۱۳۷۷، ۱۳۸۷، ۱۳۸۹، کلونــو کې په ترتیب سره ۵۰۰، ۸۰۰ او۴۰۰ عــدده امتعه تولید کړي، په پورتنیو کلونو کې به دهر تولید شوي واحد په سر د ثابتو مصارفو ونډه څومره وي.

۱۵- د تــور رنــګ جوړولو په کار خانه کې د هر قوطی رنګ د تولید لپاره د ۵۰۰ افغانیو په قیمت سره دوه کیلــو کیمیــاوي موادو ته اړتیــا ده. که چیرته په ۱۳۷۹ کال کــې (۳۵۰۰) قوطی رنګ او پــه ۱۳۸۰ کې ۵۰۰۰ قوطي رنګ تولید شــوی وي، په پورتنیــو کلونو کې د رنګ د تولید د متغیرو مصارفــو مجموعــه څو افغانۍ ده او په ورته کلونو کې د هــر قوطي رنګ د تولید متغیر مصارف څومره دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم څپرکی

## په تجارتي موسساتو کې لګښت سنجونه

**ټولیزه موخه:**

په تجارتي موسساتو کې د ورځنیو عملیاتو د مصارفو د سنجش او د محصول ټمام شوي قیمت د محاسبې د وړتیا منځته راوړل

**د زده کړې موخې:** د دې فصل په پای کې له محصلینو څخه ټمه کیږي چې:

۱- په قرضي توګه د عمده خرید قیمت سنجش کړای شي.

۲- په نغدې توګه د عمده خرید د قیمت سنجش و پیژني.

۳- د اجناسو د تهیې د قمیت سنجش و پیژني.

۴- د تجارتی اجناسو د ټمام شوي قیمت سنجش تشریح کړای شي.

۵- د امتعې د موقت پلور د قیمت سنجش و پیژني.

۶- په نغدې توګه د عمده پلور د قیمت سنجش و پیژني.

۷- په قرضې توګه د عمده پلور د قیمت سنجش و پیژني.

۸- د نهایې پلور د قیمت سنجش تشریح کړای شي.

۹- په بازار کې د پرچون خرڅلاو قیمت تعریف کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په تجارتې شرکتونو کې د مصارفو د سنجش له مخې د مصارفو ډولونه:**

د مصارفو د سنجش له مخې ورته مصارف په دریو ډولونو ویشل کیږي:

۱- انفرادي مصارف (مستقیم)

۲- ځانګړي انفرادي مصارف

۳- مشترک مصارف (غیر مستقیم)

**انفرادي مصارف:** دا له هغه ډول مصارفوڅخه عبارت دي چې په فې واحد تولید باندې په مستقیمه توګه ویشل کیدلای شي او په دقیقه توګه معین کیدلای شي چې په تجارت کې دغه ډول مصارف د امتعې د تهیې له قیمت څخه عبارت دي. دموضوع د وضاحت په موخه غوره ده چې د تهیې د مصارفو، مقداري تخفیف او نقدې تخفیف اصطلاحات تشریح شي.

**د تهیې مصارف:** د دې لپاره چې یوه اقتصادي امتعه له یوه ځای څخه بل ځای ته و لیږدوو، په ضمن کې د ترانسپورت د مصارفو یا کرایې، حمالي مصارفو، د بیمې د مصارفو، ګمرکي محصول، د ګدام د مصارفو، د اخستلو او د کمیشن د مصارفو او داسي نورو په څیر یو لړ مصارف منځته راځي چې د تهیې د مصارفو په نامه یادیږي.

**د تهیې قیمت:** دا له هغه قیمت څخه عبارت دی چې د تصدي د کار محل ته د اقتصادي امتعې یا د کار د موادو د رسولو له درکه منځته راغلي وي. یعني د خرید په قیمت برسیره د تهیې مصارف ور علاوه شوي وي او مقداري او نغدي تخفیف ترې تفریق شوي وي.

**مقداري تخفیف:** که چیرته یو پیرودونکی زیات مقدار توکي واخلي او یا دا چې یو تجار د پلورونکي دایمي پیرودونکی وي، نو د پلورونکي له لوري یو ډول تخفیف ورکول کیږي چې یاد شوی تخفیف په فوري توګه د قیمت له لیست یا د عرضې له قیمت څخه تفریق کیږي چې پاتې شوي قیمت ته د بل قیمت یا (invoice ) قیمت او یا د عمده خرید قیمت ویل کیږي.

**لمړی مثال:** د یوه توکي د لست قیمت 20000 افغانۍ و، که چیرته د هغه مقداري تخفیف 5% وي، د بل قیمت یا د عمده خرید قیمت یې پیدا کړئ؟

100 % = 2000

5% = X

2000 × 5/100 =1000 X=

مقداري تخفیف = 1000 افغانۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| قیمت عرضه = | 20000 | 100% |
| مقداري تخفیف = | × 1000 | 5 % |
| په قرضې توګه د عمده خرید قیمت | 19000 | 95 % |

$$X = \frac{20000 \times 5}{100} = 1000$$

که چیرته د یو جنس د لست قیمت مبلغ (12000000) افغانۍ وي، او پلورونکي اخستونکي ته 6٪ مقداري تخفیف ورکړي، په قرضې توګه به د عمده خرید قیمت څومره وي؟

| | | |
|---|---|---|
| د عرضې بیه = | 12000000 | 100% |
| مقداري تخفیف = | 720000 | 6 % |
| په قرضې توګه د عمده خرید قیمت | 11280000 | 94 % |

**دریيم مثال:** که د یوه جنس د عرضې قیمت (1 0000000) افغانۍ وي او پلورونکي اخستونکي ته 5٪ مقداري تخفیف ورکړي، په قرضې توګه به د عمده خرید قیمت څومره وي؟

| | | |
|---|---|---|
| د عرضې قیمت = | 10000000 | 100% |
| مقداري تخفیف = | × 500000 | 5 % |
| په قرضې توګه د عمده خرید قیمت | 9500000 | 95 % |

$$X = \frac{10000000 \times 5}{100} = 500000$$

**نغدي تخفیف:**

دا هغه ډول تخفیف دی چې تر موعود وخت د مخه د قرض ورکولو په اساس عملي کیږي. دمثال په توګه که چیرته د یوې قرضې موعد دیرش ورځې وي، او داسې مقرره شي چې که چیرته پیسې تر دیرشو ورځو د مخه ورکړل شي نو دوه فیصده تخفیف به ورکړل شي. او یا دا چې خرڅونکی د تصدي د طلب د تادیې د تشویق په موخه اخستونکي ته په یو مقدار تخفیف باندې هوکړه وکړي چې که د قرض تادیه د دوو میاشتو یا اونیو په اوږدو کې صورت ونیسي نو دغه مقدار تخفیف به ورکړل شي. دغه ډول تخفیف مشتري ته د حاصل او پلورونکي ته د مخارجو حیثیت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یادوني وړ ده چې دغه ډول تخفیف تر ډیره ځایه د مشکوکو یا ناقابل تادیه طلباتو د حصول په مقصد ورکول کیږي.

**لمړی مثال:** که چیرته د یوه جنسن د عرضې یا لست قیمت (۲۰۰۰۰ ) افغانۍ وي او پلورونکی د اخستونکي لپاره ٪۵ مقداري تخفیف او ٪۲ نغدي تخفیف په نظر کې ونیسي، په نغدي توګه د عمده خرید قیمت معلوم کړئ؟

| | | | |
|---|---|---|---|
| د عرضې قیمت | = | 200000 | 100% |
| مقداري تخفیف | = | × 1000 | 5 % |
| په قرضې توګه د عمده خرید قیمت | | 19000 | 95 % 100% |
| X نغدي تخفیف | = | 380 | 2% |
| په نغدي توګه د عمده خرید قیمت | | 18620 | 98 % |

**دوهم مثال:** که چیرته د یوه جنس قیمت (۱۰۰۰۰ ) افغانۍ وي او پلورنکي د اخستونکی لپاره ٪۵ مقداري تخفیف ، او ٪ ۳ نغدي تخفیف په نظر کې ونیو، په نغدي توګه د هغه د عمده خرید قیمت معلوم کړئ؟

| | | | |
|---|---|---|---|
| د عرضې قیمت | = | 10000 | 100% |
| مقداري تخفیف | = | × 500 | 5 % |
| په قرضې توګه د عمده خرید قیمت | = | 9500 | 95 % 100% |
| نغدي تخفیف | = | X = 285 | 3% |
| په نغدي توګه د عمده خرید قیمت | | 9215 | 97 % |

**دریيم مثال:** د یوه جنس د عرضې قیمت ۹۶۰۰۰ افغانۍ دی. مقداري تخفیف یې ٪۱۰ او نغدي تخفیف یې ٪ ۶۶، ۶ وي، په قرضې توګه یې د عمده خرید قیمت یا د بل قیمت او په نغدي توګه یې د عمده خرید قیمتونه معلوم کړئ؟

| | | | |
|---|---|---|---|
| د عرضې قیمت | = | 96000 | 100% |
| مقداري تخفیف | = | × 9600 | 10 % |
| په قرضې توګه د بل قیمت | | 86400 | 90 % 100% |
| X مقدراي تخفیف | = | 5788. 8 | 7. 6% |
| په نغدي توګه د عمده خریدقیمت | | 2 .80611 | 3 .93 % |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**څلورم مثال:** د یوه تجارتي جنس د عرضې قیمت ۱۸۰۰۰۰ افغانۍ دی ، پلورونکي د خپل مشتري لپاره ٪ $8\frac{1}{3}$ مقداري تخفیف او ٪ $4\frac{2}{3}$ نغدي تخفیف په نظر کې نیولای دی، په قرضې او نغدي توګه یې د عمده خرید قیمتونه معلوم کړئ؟

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د عرضي قیمت | = | 180000 | | 100% |
| مقداري تخفیف | = | × 14940 | | 3 .8 % |
| د بل قیمت | | 65060 | 7 .91 % | 10% |
| مقداري تخفیف | x = | 7757. 8 | 4. 7 | |
| په نغدي توګه د عمده خرید قیمت | | 18 .157302 | | 3 .95 % |

**مشترک مصارف:**

په تجارت کې د امتعې د تهیې له قیمت څخه پرته نور ټول مصارف د مشترکو مصارفو په نامه یادیږي. دغه ډول مصارف د عمومي یا تجارتي مصارفو په نامه هم یادیږي. معاشات، مالیه، د حریق بیمه، استهلاک، اجتماعي مصارف، د ترمیم مصارف او داسي نور د ورته مصارفو ځیني بیلګي دي، پداسي حال کې چې په صنایعو کې له تکمیلي مزد او تکمیلې موادو یا خالصو انفرادي مصارفو څخه پرته نور ټول مصارف د مشترکو مصارفو په نامه یادیږي.

**پوښتنه:** که چیرته د یوه جنس د عرضې قیمت 96000 افغانۍ وي په داسي حال کې چې مقداري تخفیف یې 10% ، نغدي تخفیف یې 6,7%، د تهیې مصارف یې 9% او مشترک مصارف یې 20% وي، د تجارتي توکي یا جنس تمام شوی قیمت پیدا کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| د عرضي قيمت = | 96000 | 100% | |
| مقدراي تخفيف = | ـ 9600 | 10 % | |
| په قرضي توګه د عمده خريد قيمت | 86400 | 90% | 100 % |
| نغدي تخفيف | 7 .6% | 5760 | |
| په نغدي توګه د عمده خريدقيمت | 0 .80640 | 3 .93% | 100% |
| د تهيې مصارف | 6 .7257 | | 9% |
| د تهيې قيمت + | 60 .87897 | 100% | 109% |
| مشترک مصارف | 5 .17579 | | 20% |
| تمام شد قيمت | 12 .105377 | | 120% |

**د تمام شوي قيمت سنجش**

که چيرته د انفرادي مصارفو په تجارتي سنجش کې د تهيې په قيمت باندې مشترک مصارف هم ور علاوه کړل شي،تمام شوی قيمت تر لاسه کيږي.

**پوښتنه:** د يوه جنس د لست قيمت (۷۸۰۰۰) افغانۍ دی او پلورونکی يې د خرڅولو لپاره ۲۰٪ مقدار تخفيف٪۵،۲ نقدي تخفيف په نظر کې لري. د يا شوي جنس د تهيې مصارف (۳۲۴۰) افغانۍ دی ، که چيرته د پخواني تجارت په اساس مشترک مصارف ٪ ۵،۱۲ تعيين شوي وي، د تجارتي جنس د تمام شوی قيمت سنجش کړئ؟

| | | | |
|---|---|---|---|
| د لست قيمت | ۷۸۰۰۰ | ۱۰۰٪ | |
| مقداری تخفيف | ۱۵۶۰۰ | ۲۰٪ | |
| په قرضی توګه د عمده خريد قيمت | ۶۲۴۰۰ | ۸۰٪ | ۱۰۰٪ |
| نقدی تخفيف | ۱۵۶۰ | ۵ .۲٪ | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| په نغدي توګه د عمده خريد قيمت | ۶۰۸۴۰ | ۵ .۹۷٪ | ۱۰۰٪ |
| د تهيې مصارف | ۳۲۴۰ | ۲۳ .۵٪ | |
| د تهيې قيمت | ۶۴۰۸۰ | ۲۳ .۱۰۵٪ | ۱۰۰٪ |
| مشترک مصارف | ۸۰۱۰ | ۵ .۱۲٪ | |
| د جنس تمام شوی قيمت | ۷۲۰۹۰ | ۵ .۱۱۲٪ | |

**د خرڅلاو د قيمت سنجش**

په لمړي قدم کې په تمام شوي قيمت باندې مفاد ورعلاوه کيږي تر څو د خرڅلاو موقت قيمت تر لاسه شي. په هغه هيواد کې چې د اقتصاد مرکزي پلان لري، مفاد د يوې فيصدي په اساس چې د دولت له لوري تعين شوی وي، په تمام شوي قيمت باندې ور علاوه کيږي. خو په هغو هيوادونو کې چې د ازاد بازار اقتصاد لري، پخپله تصدي يا دولت د مفاد د تعين په برخه کې چندان دخالت نه لري او مفاد د تمام شوي قيمت د نهايي پلور د قيمت په اساس او د خرڅلاو قيمت د عرضې او تقاضا له مخې تعين کيږي.

يادونه کيږي چې د خرڅلاو له قميت څخه زموږ موخه خالص يا موقت قيمت نه دی، بلکي موږ بايد د حسابي خرڅلاو قيمت يا په عمده توګه د نغدي خرڅلاو قيمت تر لاسه کړو چې د خرڅلاو دغه قيمت د خاصو انفرادي مصارفو په زياتوالي سره صورت نيسي او په نغدي توګه د نغدي تخفيف فيصدي او د مقداري تخفيف فيصدي ور باندې اضافه کيږي تر څو د نهايي خرڅلاو قيمت تر لاسه شي.

**لمړی مثال:** د يوه تجارتي جنس د عرضې يا لست قيمت (۱۸ ۰۰۰۰) افغانۍ دی چې خرڅونکي يې د اخستونکي لپاره ٪ ۳،۸ مقداري تخفيف او ٪۲ نغدي تخفيف په پام کې لري. که چيرته د تهيې مصارف يې (۵۳۰۰) افغانۍ وي او د خريد مشترک مصارف يې ٪۱۰ وي او اړوند تجارتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصدي خريدار يا اخيستونکي ته ٪۲۰ مفاد او ٪۵ پرچون تزئید په نظر کې ولري، د نهايې خرڅلاو قيمت معلوم کړئ؟

| |
|---|
| ٪۱۰۰ ٪ ۱۸۰۰۰۰ د لست قيمت<br>٪۳,۸ ۱۵۰۰۰ مقداري تخفيف |
| ٪۱۰۰ ٪۱۱. ۷ ۱۶۵۰۰۰ په نغدي توګه د خريد قيمت<br>٪۲ ۳۳۰۰ نغدي تخفيف |
| ٪۱۰۰ ٪۹۸ ۱۶۱۷۰۰ په نغدي توګه د عمده خريدقميت<br>٪۲۸ .۳ ۵۳۰۰ د تهيې مصارف |
| ٪۱۰۰ ٪۲۸ .۱۰۳ ۱۶۷۰۰۰ د تهيې قيمت<br>٪۱۰ ۱۶۷۰۰ د خريد مشترک مصارف |
| ٪ ۱۱۰ ٪۱۰۰ ۱۸۳۷۰۰ تمام شوی قيمت<br>٪۲۰ ۳۶۷۴۰ مفاد |
| ٪۱۰۰ ٪۱۲۰ ۲۲۰۴۴۰د موقت خرڅلاو قيمت<br>٪۵ ۱۱۰۲۲ د مشترک خرڅلاو مصارف |
| ٪۱۰۵ ٪۱۰۰ ۲۳۱۴۶۲ په نغدي توګه د عمده خرڅلاو قيمت<br>٪۵ ۱۱۵۷۳ د پرچون پلور په اساس تزنيد (تخفيفی مقداری) |
| ٪۱۱۰ ۲۶۷۳۳۸. ۵ د نهايې پلور قيمت |

دويم مثال: د يوه تجارتي جنس د لست قيمت ( ۱۰۰۰۰۰ ) افغانۍ دی. خرڅونکي د اخستونکي لپاره ٪۲ مقداري او نغدي تخفيف په پام کې لري. که چيرته د تهيې مصارف (۵۰۰۰) افغاني وي او د خريد مشترک مصارف ٪۵ وي، که چيرته نوموړی ٪۲۰ مفاد تر لاسه کړي، پداسي حال کې چې د خرڅلاو مشترک مصارف ٪۱۰ او د قرض په اساس تزئيد ٪۸ او د پرچون خرڅلاو په اساس تزئيد ٪ ۵ وي، د جنس د نهايې خرخلاو يا پرچون خرڅلاو قيمت پيدا کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

| |
|---|
| ۱۰۰٪ ۱۰۰۰۰۰ د لست قمیت<br>۱۰٪ ۱۰۰۰۰ مقداری تخفیف |
| ۱۰۰٪ ٪ ۹۰ ۹۰۰۰۰ په قرضې توګه د عمده خریدقیمت<br>۲٪ ۱۸۰۰ نقدی تخفیف |
| ۱۰۰٪ ۹۸٪ ۸۸۲۰۰ په نغدي توګه د عمده خرید قمیت<br>۶۷ .۵٪ ۵۰۰۰ د تهیې مصارف |
| ۱۰۵. ۶۷٪ ٪۱۰۰ ۹۳۲۰۰ د تهیې قیمت<br>۵٪ ۴۶۶۰ د خرید مشترک مصارف |
| ۱۰۰٪ ۱۰۵٪ ۹۷۸۶۰ تمام شدقیمت<br>۲۰٪ ۱۹۵۸ مفاد |
| ۱۲۰٪ ۱۰۰٪ ۱۱۷۴۳۲ د موقت فروش قیمت<br>۱۰٪ ۲.۱۱۷۴۳ د فروش مشترک مصارف |
| ۱۰۰٪ ۱۱۰٪ ۱۲۹۱۷۵. ۲۰۰ په نغدي توګه د عمده خرڅلاو قیمت<br>۵٪ ۶۴۵۸. ۷۶۰ په قرضې توګه د خرڅلاو په اساس تزئید |
| ۱۰۵٪ ۱۰۰٪ ۱۳۵۶۳۳۰۹۶۰ په قرضې توګه عمده قیمت<br>۸٪ ۱۰۸۵۰. ۷۲۰ د پرچون خرڅلاو په اساس تزئید |
| ۱۰۸٪ ۱۴۶۴۸۴. ۶۸ د نهایې پرچون فروش قیمت |

**دریم مثال:** که چیرته د یوه تجارتی جنس د لست قیمت (۱۲۰۰۰۰) افغانۍ وی او خرڅونکي د اخستونکي لپاره ۵٪ مقداري تخفیف او۱۰٪ نقدی تخفیف ورکړي، که چیرته د هغه جنس د تهیې مصارف ۵٪،د خرید مشترک مصارف ۱۰٪ وي او نوموړی تاجر ۲۰٪ مفاد په نظر کې ونیسي، پداسې حال کې چې د فروش مشترک مصارف ۱۰٪ او د قرض په اساس تزئید ۵٪ او د پرچون په اساس تزئید ۱۰٪ وي، د تجارتي جنس د نهایي پرچون خرڅلاو قیمت تر لاسه کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| = د لست قیمت | ۱۲۰۰۰۰ | | ۱۰۰٪ |
| = مقداری تخفیف | ۶۰۰۰ | | ۵٪ |
| = په قرضې توګه د عمده خرڅلاو قیمت | ۱۱۴۰۰۰ | ۹۵٪ | ۱۰۰٪ |
| = نقدی تخفیف | ۱۱۴۰۰ | | ۱۰٪ |
| په نغدي توګه د عمده خرید قیمت | ۱۰۲۶۰۰ | ۹۰٪ | ۱۰۰٪ |
| د تهیې مصارف | ۵۱۳۰ | | ۵٪ |
| د تهیې قیمت | ۱۰۷۷۳۰ | ۱۰۰٪ | ۱۰۵٪ |
| د خرید مشترک مصارف | ۱۰۷۷۱ | ۱۰٪ | |
| تمام شوی قیمت | ۱۱۸۵۰۳ | ۱۱۰٪ | ۱۰۰٪ |
| مفاد | ۱۱۷۰۰۰۶ | ۱۰٪ | |
| د موقت فروش قیمت | ۱۴۲۲۰۳۰۶۰ | ۱۰۰٪ | ۱۱۰٪ |
| د فروش مشترک مصارف | ۱۲۱۱۰، ۳۲ | ۱۰٪ | |
| په نغدی توګه د عمده فروش قیمت | ۱۵۴۲۳،۹۶۰ | ۱۱۰٪ | ۱۰۰٪ |
| د پرچون پروش په اساس ترئید | ۱۶۲۱، ۵۱۶ | | ۱۰٪ |
| د پرچون فروش یا د تجارتي جنس نهایې قیمت | ۱۸۰۶۶۹، ۶۷۳ | | ۱۱۰٪ |

**د دریم څپرکي د مطالبو لنډیز:**

۱- په تجارتي موسساتو کې د مصارفو د سنجش له نظره د مصارفو ډولونه:

انفرادی مصارف (مستقیم)

خاص یا ځانګړي انفرادي مصارف

مشترک مصارف (غیر مستقیم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- هغه اصطلاحات چې د مصارفو د سنجش په برخه کې کارول کیږي، په لاندې ډول دي:

د تهیې قیمت.

د تهیې مصارف.

مقداري تخفیف.

نغدی تخفیف.

د اجناسو تمام شوی قیمت.

د خرڅلاو قیمت.

**د دریم څپرکي پوښتنې:**

۱- که چیرته د یوه تجارتي جنس د عرضې قیمت ۹۰۰۰۰۰۰ افغانی وي او د پلورونکي له لوري اخستونکي ته ۵٪ مقداري تخفیف او ۸٪ نغدي تخفیف په پام کې نیول شوی وي، په نغدي توګه یې د عمده خرید قیمت سنجش کړئ؟

۲- د یوه تجارتی جنس د لست قیمت ۲۰۰۰۰۰۰ افغانۍ دی، پداسي حال کې چې د هغه مقداري تخفیف۱۰٪ او نغدي تخفیف ۶.۷٪ وي او د تهیې ۹٪ مصارف هم وربانديې علاوه شي،د یاد شوي جنس د تهیې قیمت سنجش کړئ؟

۳- د یوه تجارتی جنس د عرضې قیمت ۵۰۰۰۰۰۰ دی. خرڅونکی د اخستونکي لپاره ۳٪، ۸ مقدراي تخفیف او ۲٪ نغدي تخفیف په پام کې لري. که چیرته د تهیې مصارف ۵۰۰۰ او د خرید مشترک مصارف ۱۰٪ وي، د یاد شوي تجارتي جنس تمام شد قیمت سنجش کړئ؟

۴- که د یوه جنس د عرضې قیمت(۲۵۰۰۰۰۰۰ ) افغانۍ وي او خرڅونکي د اخستونکي لپاره ۷٪ مقداري تخفیف او ۵٪ نغدي تخفیف په پام کې نیولای وي. نو که چیرته د همدغه جنس د تهیې مصارف(۵۰۰۰) افغانۍ او د خرید مشترک مصارف ۲۰ فیصده وي او تجارتي شرکت ۲۰٪ مفاد په نظر کې ونیسي، د تجارتي توکي د موقت خرڅلاو قیمت سنجش کړئ؟

۵- که د یوه تجارتي جنس د لست قیمت (۴۰۰۰۰۰۰ ) افغانۍ وي او خرڅونکی د اخستونکي لپاره ۵٪ مقداری او ۱۰٪ نغدي تخفیف په پام کې ولري، که چیرته د هغه د تهیې مصارف ۸٪ او د خرید مشترک مصارف ۱۰٪ وي او نوموړی تاجر ۲۰٪ مفاد هم ور باندې اضافه کړي،پداسي حال کې چې د خرڅلاو مشترک مصارف ۱۰٪ او د قرضو په اساس د خرڅلاو تزیید۵٪ او د پرچون په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اساس د خرڅلاو تزييد ۱۰٪ وي، د نهايې خرڅلاو قيمت يا د پرچون فروش قيمت سنجش کړئ؟

۶- د یوه تجارتي جنس د عرضې قيمت (۲۰۰۰۰۰۰ ) افغانی دی او خرڅونکی د اخستونکي لپاره ۳٪، ۸ مقداري تخفيف او ٪ ۷، ۴ نغدي تخفيف په پام کې ولري، نو که د هغه د تهيې مصارف (۲۰۰۰) افغانۍ او د خريد مشترک مصارف ۱۶٪ وي او تجارتي تصدي ۲۰٪ مفاد په نظر کې ولري پداسي حال کې چې د فروش مشترک مصارف ۱۰٪ او د قرضو په اساس د خرڅلاو تزييد ۵٪ او د پرچون په اساس د خرڅلاو تزئيد ٪ ۱۲ وي، د ياد شوي جنس د نهايې خرڅلاو يا پرچون پلور قيمت سنجش کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم څپرکی

## په صنعتي شرکتونو کې د لګښتونود سنجونې طریقې

ټولیزه موخه:
د تولید شوی او پلورل شوې امتعې د ټمام شوي قیمت پیدا کول او محاسبه.

**د زده کړې موخې:** د دې فصل په پای کې له محصلینو څخه ټمه کیږي چې:

- په صنعتي موسساتو کې د تولید شوي امتعې د مصارفو سنجش او محاسبه تعریف کړاي شي.
- د پلورل شوي امتعې د مصارفو سنجش او محاسبه تشریح کړای شي.
- د هیواد په داخل او خارج کې په صنعتي شرکتونو کې د مصارفو د سنجش لارې چارې زده کړي.
- د اولیه قیمت تر لاسه کول زده کړي.
- د تبدیلي قیمت تر لاسه کول زده کړي.
- په صنتعي موسساتو کې د ګزارش یا راپور د چمتو کولو ترتیب زده کړي.
- په صنعتي موسساتو کې د ګټې او ضرر د راپور یا ګزارش ترتیب او تر سره کړای شي.
- د مالي دورې د اخیرې موادو د مصرف ګزارش ترتیب کړای شي.
- د خالصې ګټې یا خالص مفاد ګزارش تر لاسه کړای شي.

په صنعتي شرکتونو کې د مصارفو د سنجش لارې چارې او طریقې: په تیر فصل کې مو په تجارتي او خدماتي تصدیو کې د مصارفو د ارزوني طریقې ولوستي ، په دې فصل کې هڅه کوو چې په صنعتي شرکتونو کې د مصارفود سنجش له تعریفونو او اصطلاحاتو سره پیژندګلوي پیدا کړي.

**د مصارفو د سنجش او د مصارفو د سنجش دایرې موخه څه ده؟**

د مصارفو سنجش د کار ټمامو تولیداتو ، موجودي او نیم کاره تولید د ټمام شد قیمت له تعین

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه عبارت دی. همدا شان د مصارفو دسنجش د دایرې موخه دا ده چې د تولیدي او غیر تولیدي عملیاتو د مصارفو له سنجش سره په تړاو د اسنادو او مدارکو ساتنه یا حفاظت و کړي او په ضمن کې د مدیریت د استفادې په موخه د توزیع او خرڅلاو د ټولو مصارفو د تحلیل او تجزیې دنده په غاړه لري.

**کار تمام یا بشپړ شوي تولیدات کوم دي؟**

هغه تولیدات چې ټولي تولیداتې مراحل یې بشپړ شوي وي د کار تمام یا تکمیل شویو تولیداتو په نامه یادیږي.

**نیم کاره تولیدات کوم دي؟**

هغه تولیدات چې د تولید په مراحلو کې قرار ولري خو تر اوسه پوري بشپړ شوي نه وي ، د نیم کاره تولیداتو په نامه یادیږي.

**له تولید څخه مقصد څه شی دی؟**

کله چې لمړني مواد د یوې پروسي له بشپړولو وروسته تغیر شکل شي او په یوه تکمیل شوي شي باندې بدل شي، اصطلاحاً ویل کیږي چې تولید صورت نیولای دی.

د مثال په توګه: که د یوې پروسي له بشپړولو وروسته یوه ټوټه لرګی په میز او چوکۍ باندې بدل شي، دغه عمل تولید بلل کیږي.

**د تمام شوي قیمت اجزا او عوامل کوم دي؟**

په عمومي توګه د یو شي د تمام شوي قیمت اصلي عوامل په دریو ګروپونو باندې ویشل شوي دي:

۱- د لمړنیو موادو مصارف:

۲- د کارګرانو مزدا و مشترک مصارف

۳- لمړني مواد

**د تولید او محصول د اصلي رکن په توګه لمړني مواد په دوو برخو ویشل کیږي:**

**الف: مستقیم مواد:** دمصرفي موادو هغه برخه چې له هغو پرته د امتعې تولید امکان نه لري او په مستقیمه توګه د امتعې په تولید کې ونډه لري مستقیم مصرفي مواد بلل کیږي. دمثال په توګه د ډودۍ په تولید کې د اوړو ونډه مستقیم مواد ګڼل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ب: غیر مستقیم مواد:** دا د مصرفي موادو هغې برخې ته ویل کیږي چې د امتعې د تکمیل لپاره ضروري وي خو د هغې د ناڅیزه مصرف له کبله د مستقیمو مصرفې موادو په توګه نه شي طبقه بندي کیدلای. د میزونو او چوکیو په تولید کې د میخونو ونډه د ورته مصارفو د بیلګې په دود وړاندې کولای شو.

**د کارګرانو مزد**

هغه حقوق او حق الزحمه چې د کار په جریان کې د کار په موادو باندې د لمړنیو موادو د بدلیدلو له درکه ټولو کارګرانو ته ورکول کیږي د مزد په نامه یادیږي.

**مزد په دوو برخو باندې ویشل شویدی:**

**الف- مستقیم مزد:** دا هغه ډول مزد دی چې په کار تمامو یا تکمیل شویو موادو باندې د لمړنیو موادو د بدلون د عمل له درکه تادیه کیږي.

**ب- غیر مستقیم مزد:** دغه ډول مزد د هغه کار د تر سره کولو له درکه ورکول کیږي چې په مستقیمه توګه د کار تمامو توکیو په تولید او د هغو په ترکیب کې ځانګړی نقش نه لري. لکه د شرکت د ساتونکو مزد.

**مشترک تولیدي مصارف**

هغه ټول مصارف چې د تولید په جریان کې واقع کیږي خو په مستقیمو یا غیر مستقیمو مصارفو باندې د هغو د ویشلو امکان ونه لیدل شي، د مشترکو مصارفو په نامه یادیږي. د ورته مصارفو ځینې نمونې او بیلګې د تولید له غیر مستقیمو موادو، د تعمیراتو دمصارفو، غیر مستقیم مزد، د ماشین الاتو د استهلاک له مصارفو او داسې نورو څخه عبارت دي.

په تیر درس کې یادونه وشوه چې تمام شوی قیمت له پنځو برخو څخه تشکیل شویدی:

۱- مستقیم مواد

۲- مستقیم مزد

۳- مشترک مصارف

۴- کار تمام تولیدات

۵- نیم کاره تولیدات

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکې لدې چې د نیم کاره او کار تمامو یا تکمیل شویو تولیداتو د تمام شد قیمت د ګزارشونو سنجش و کړو، غوره ده چې له دوو اصطلاحاتو سره اشنایې پیدا کړو:

**اولیه قیمت:** اولیه قیمت د هغو مصارفو له حاصل جمع څخه عبارت دی چې په مستقیمه توګه د امتعې په تولید کې کارول کیږي.

مستقیم مزد +مستقیم مصرفې مواد = اولیه قیمت

**د تبدیلي قیمت:** تبدیلي قیمت یا تبدېلي مصارف له هغو مصارفو څخه عبارت دي چې په تکمیل شویو موادو باندې د اولیه موادو د بدلون له درکه را منځته کیږي، یعني په واقعیت کې د تولید د مستقیم مزد او مشترکو مصارفو حاصل جمع وي.

مشترک مصارف + مستقیم مزد = تبدیلی قیمت

**په تولیدي او صنعتي موسساتو کې د ګزارش یا راپور چمتو کول**

په صنعتي موسساتو کې د ګزارشونو چمتو کول د دوو موخو لپاره تر سره کیږي:

۱- د شرکت او تصدیو فعالیتونو او کړو وړو تحلیل او تجربې ته په کتنې سره د موسساتو د کمزوریو او ضعیفو ټکو د بررسي امکان او وړتیا منځته راوړل.

۲- له تیرو مالي ګزارشونو څخه د ترلاسه شویو معلوماتو او اطلاعاتو په اساس د فعالیتونو کنترول او پلانګذاري.

د صنعتي موسساتو ورته ګزارشونه په دوو ګروپونو ویشل کیږي:

۱- د شرکت داخلي ګزارشونه

۲- د شرکت باندني ګزارشونه

**د شرکت داخلي ګزارشونه:** دغه ډول ګزراشونه له هغه ډول څخه عبارت دي چې دپلانګذاري ، کنترول، نظارت او تصمیم نیونې په موخه دمدیرانو د استفادې لپاره چمتو کیږي.

**د شرکت باندني ګزارشونه:** دغه ډول ګزارشونه په عمومي توګه له موسسې څخه د باندې د حقیقي او حقوقي اشخاصو د استفادې لپاره چمتو کیږي چې مهم استفاده کونکي یې له سرمایه ګذارانو، بانکونو او داسې نورو څخه عبارت دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د صنعتي موسساتو د مصارفو د سنجش گزارشونه

**د تصدی داخلي گزارشونه**

۱-د موادو دمصرف  گزارش
۲-  د کار تمامو یا تکمیل شویو
تولیداتو د تمام شوي قیمت گزارش
۳- د نیم کاره تولیداتوگزارش
۴-د تلف شویو وختونو گزارش
۵- د ضایعاتوگزارش
۶- د موادو د پیر  یا خرید گزارش
۷-  د پلور گزارش
۸-  دمدیره ډلي د استفادې وړ ټول
گزارشونه

**د شرکت باندني گزارشونه**

۱-  د  پلورل شویو تولیداتو  د تمام
شد قیمت گزارش.
۲-  د گټې او ضررگزارش
۳-  دبیلانس گزارش
۴-  د نغدي جریان گزارش
۵-  د مفاد د ویش گزارش

### د پلورل شویو تولیداتو د تمام شوي قیمت گزارش څه شی دی؟

د دې لپاره چې د موسسي داخلي او خارجي گزارشونه په ښه توگه و پیژنو، په لمړي سر کې د پلورل شویو تولیداتو د تمام شوي قیمت گزارش چې  د  تصدي یو خارجي گزارش گڼل کیږي ، مطالعه کوو. څکه  د تجارتي مصارفوپه سنجش کې په یوه بل ډول له هغه سره اشنا شوي یاست.

| د تولیدي موسسي د پلورل شویو تولیداتو  د تمام شد مصارفو سنجش .  مجموع سال ۱۳۸۹ | | | |
|---|---|---|---|
| حسابی معاملات | فرعي حسابونه | اصلي حسابونه | مجموعی حسابونه |
| د موادو مصرف: | | | |
| د دورې په لمړیو کې د موادو موجودي | | | 810000 |
| د دورې په اوږدو کې د موادوخرید | | 3970000 | |
| د خرید نغدي تخفیفات | +50000 | -200000 | |
| خالص خرید | | 770000 .3 | |
| اضافه کیږي:  د خرید د حمل و نقل مصرف | | +120000 | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| د خريداري شويو مواد و تمام شوی قيمت | | 3890000 | +3890000 |
| مصرف ته آماده مواد | | | 4700000 |
| کسر کيږي: د دورې اخيري موجودي | | | 1430000 |
| د دورې په اوږدو کې د مصرفي موادو تمام شوی قيمت | | | 3270000 |
| د مستقيم مزد مصرف | | | 1830000 |
| د توليد مشترک مصارف: | | | |
| غير مستقيم مواد | | 180000 | |
| د غير مستقيم مزد مصرف | | 70000 | |
| د اجتماعي بيمو مصرف | | 380000 | |
| د محرکه موادو مصرف | | 215000 | |
| د ماشين آلاتو د استهلاک مصرف | | 245000 | |
| د حوادثو د بيمې مصرف | | 154000 | |
| د ماشين الاتو د بيمې مصرف | | 111000 | |
| مجموع مشترک توليد | | | 1355000 |
| د دورې په اوږدو کې د توليدي مصارفو مجموعه | | | 6455000 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| اضافه کیږي: د دورې په لمړی سر کې د نیم کاره تولید په جریان کې د امتعې موجودي | | | 648000 |
| د دورې په اوږدو کې د نیم کاره تولیداتو تمام شوی قیمت | | | 7103000 |
| کسر کیږي: د دورې په پای کې د نیم کاره تولیداتو موجودي | | | 753000 |
| د دورې په اوږدو کې د تکمیل شویو محصولاتو تمام شوی قیمت | | | 6350000 |
| اضافه کیږي: د دورې په لمړیو کې د تولید شوي امتعې موجودي | | | 1650000 |
| پلور ته د آماده تولید تمام شوی قیمت | | | 8000000 |
| کسر کیږي: د لمړۍ دورې د تولید شویو محصولاتو د موجودي تمام شوی قیمت | | | 1500000 |
| د پلورل شویو تولیداتو تمام شوی قیمت | | | 6500000 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تولیدي شرکت نمونه
په مالي کال کې د پلورل شویو تولیداتو
د تمام شوی قیمت گزارش:
نیټه: ۲۹ / ۱۲ ۱۳۸۸

**مصرفی مواد:**

| | | |
|---|---|---|
| **لمړی برخه** | د دورې د اولیه موادو موجودي | ( ) |
| | د مالي دورې په اوږدو کې د موادو خرید | ( ) |
| | د پیرودل شویو موادو دحمل او نقل مصرف | +( ) |
| | د اخستل شویو موادو تمام شوی قیمت | ( ) |
| | له تخفیفیاتو او پیرځخه برگشت | ( ) |
| | د خرید نغدي تخفیفات | ( )( ) |
| | خالص خرید | ( ) |
| | مصرف ته د اماده موادو موجودي | ( ) |
| | د دورې د پای موجودي | -( ) |
| | د مصرفې موادو تمام شوی قیمت | ( ) |
| دوهمه برخه | مستقیم مزد | ( ) |
| دریمه برخه | دتولید مشترک مصارف | ( ) |
| | غیر مستقیم مزد | ( ) |
| | دماشین آلاتو د استهلاک مصارف | ( ) |
| | د کارفرما د بیمې د حقوقو ونډه | ( ) |
| | د تولیدټول مصارف | ( ) |
| | جمع، د دورې په اوږدو کې د تولید مصارف | ( )+( ) |
| څلورمه برخه | اضافه کیږي: د دورې په لمړیو کې د نیم کاره تولیداتو د موجودي قیمت | -( ) |
| | کسر کیږي: د دورې په پای کې د نیم کاره تولیداتو قیمت | ( ) |
| | د دورې په اوږدو کې د کار تمامو تولیداتو قیمت | ( ) |
| پنځمه برخه | اضافه کیږي: د دورې په لمړیو کې د کار تمامو تولیداتو قیمت | ( ) |
| | پلور ته د آماده تولیداتو قیمت | ( ) |
| | کسر کیږي: د دورې د پای د کارتمامو تولیداتو د موجودي قیمت | ( ) |
| | د پلورل شویو تولیداتو تمام شوی قیمت | ( ) |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خالصې ګټې او ضرر ګزارش څه شی دی؟

په صنعتي موسساتو کې د تصدي دوهم باندنی ګزارش د خالصې ګټې او ضرر له ګزارش څخه عبارت دی چې پخپل ځان کې له څلورو برخو څخه تشکیل شویدی چې نمونه یې په لاندی ډول ده.

**د صنعتي شرکت نمونه**

د نفع او ضرر ګزارش

د ۷۸۳۱ کال لپاره

| | | |
|---|---|---|
| | پلور | xxx .......................... |
| | کسر کیږي: | |
| لمړۍ برخه | ۱- له پلور او تخفیفاتو څخه را ستنیدنه | xxx ......... ................ |
| | ۲- د فروش نغدي تخفیفات | xxx ........... .............. |
| | خالص فروش | xxx ............................ |
| دوهمه برخه | کسر کیږي: | |
| | د پلورل شویو تولیداتو تمام شوی قیمت | -xxx ............... .......... .. |
| | ناخالص مفاد او ضرر | xxx .......................... |
| دریمه برخه | عملیاتی مصارف: | |
| | ۱- اداري او تشکیلاتي مصارف | xxx ........................... |
| | ۲- د توزیع او پلور مصارف | xxx ...... .................... |
| څلورمه | کسر کیږي: د عملیاتي مصارفو مجموعه | xxx ................ ..... |
| برخه | خالصه ګټه او ا ضرر | xxx .... ...................... |

(c) ketabton.com: The Digital Library

د صنعتي موسساتو د ګټې اوضرر دتشکیل خلاصه د مصارفو د برخې د فرمولونو په واسطه تعین کولای شو.

(۱)

(نغدي تخفیفات +له پلور او تخفیفاتو څخه را ستنیدنه ) - فروش = فروش

(۲)

(۳ د دورې د پای د تولیداتو قیمت - (د دورې په اول کې کار تمامه تولید +د دورې په اوږدو کې د کار تمامو تولیداتو قیمت) = د پلورل شویو تولیداتو د تمام شوی قیمت)

(۳)

د پلورل شویو تولیداتو تمام شوی قیمت - خالص فروش = ناخلص نفع اوضرر

(۴)

د فروش او توزیع مصارف + اداري مصارف = عملیاتي مصارف

(۵)

عملیاتی مصارف -ناخالص مفاد = خالص مفاد یا ضرر

**دموادو د مصرف ګزارش**

معمولاً ټول صنعتي موسسات هره میاشت د موادو د مصرف د مبلغ یا مقدار ګزارش چمتو کوي چې د موادو د مصرف ګزارش ورته ویل کیږي.
البته اشاره وشوه چې دغه ګزارش کیدی شي داولیه موادو د مصرف مبلغ یا مقدرا وي.
باید پاملرنه وشي چې د پلورل شویو تولیداتو د تمام شوي قیمت ګزارش په واقعیت کې د موادو د مصرف د مبلغ یو ګزارش وي.

**د نمونې صنعتي شرکت**

د ۱۳۸۷ د موادو د مصرف ګزارش

| | |
|---|---|
| د دورې د لمړیو موادو موجودي | xxx .............................. |
| د دورې په اوږدو کې د موادوخرید | xxx .............................. |
| اضافه کیږي: د خرید د حمل ونقل مصارف | xxx .............................. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| کسر کیږي: | xxx ........................... |
| د خریداري شویو موادو قیمت | xxx ........................... |
| له پیرو دلو او تخفیفاتو څخه برګشت | xxx ........................... |
| د خرید نغدي تخفیفات | xxx ........................... |

| | |
|---|---|
| **خالص خرید** | xxx ........................... |
| مصرف ته اماده مواد | xxx ........................... |
| کسر کیږي: د دورې د پای د موادو موجودي | xxx ........................... |
| د مصرف شویو موادو تمام شوی قیمت | xxx ........................... |

همدا شان کولای شوپه فرمولي توګه د موادو د مصرف مبلغي ګزارش چمتو کړو.

د دورې د اخري موادو موجودي – خاصل خرید + د دوري د اول موادو موجودي = مصرف شوي مواد

( دخرید نغدي تخفیفات +برګشت از خرید و تخفیفات )- د حمل و نقل مصارف +خریداري شوي مواد =خالص خرید

مثال: د احمد تولیدي موسسه لاندې معلومات په واک کې لري:

۱- د دورې د لمړنیو موادو موجودي 300kg

۲- د لمړنیو موادو خرید 850k g

۳- د پلورونکي بیرته واپس شوي اولیه مواد 140kg

۴- د دورې په پای کې د اولیه موادو موجودي 250kg ، د تولید په موخه مصرف شوي مواد سنجش کړئ؟

**د واپس شویو موادو مقدار – اخستل شوي اولیه مواد = د اخستل شویو موادو خالص مقدار**

**د اخستل شویو موادو مقدار ۷۱۰ = ۱٤۰ – ۸۵۰**

**د دورې د پای د موادوموجودي - خالص خرید + د دورې د لمړنیو موادو موجودي = د تولید مصرف شوي مواد**

**۳۰۰+ ۷۱۰ – ۲۵۰ = ۷٦۰**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تولید د ټمام شوي قیمت ګزارش یا د تولید د مصارفو ګزارش

دغه ګزارش چې په حقیقت کې د شرکت داخلي ګزارش دی، معمولاً د هرې مالي دورې په پای کې تهیه کیږي او د دې امکان را منځته کوي چې په روانه او تیره میاشت کې د محصول د ټمام شدقیمت مقایسه صورت ونیسي او د تولید د ټمام شوي قیمت د زیاتوالي او کموالي علتونه په ګوته شي او د تولید د حجم په اړه مناسب تصامیم ونیول شي. د ټمام شد قیمت ګزارش ته چې په لاندې ډول دی پام وکړئ.

د یوه نمونه یي شرکت د ۱۳۸۷ ام کال د مالي دورې لپاره د تولید د ټمام شد قیمت ګزارش

| | |
|---|---|
| د دورې په اوایلو کې د نیم کاره تولیداتو موجودي | XXX |
| مستقیم مزد | XXX |
| د دورې په اوږدو کې مصرف شوي اولیه مواد | XXX |
| اولیه قیمت | XXX |
| غیر مستقیم مزد | XXX |
| غیر مستقیم مواد | XXX |
| مشترک مصارف: | XXX |
| ټول مصارف | XXX |
| د ماشین آلاتو د استهلاک مصارف | XXX |
| د کار فرما د ونډې د کارګرانو د بیمې مصارف | XXX |
| د دورې په اوږدو کې د تولید مصارف | XXX |
| کمیږي | XXX |
| د دورې په اوږدو کې د نیم کاره تولیداتو ټمام شد قیمت | XXX |
| د دورې په پای کې د نیم کاره تولیداتو موجودي | XXX |
| د کار ټمام تولیداتو ټمام شوی قیمت | XXX |

(c) ketabton.com: The Digital Library

که وغواړو د تولیداتو د تمام شوی قیمت گزارش د فرمول په واسطه روښانه کړو، په لاندې ډول دی:

**مستقیم مزد + د مستقیمو مصرفي موادو اولیه قیمت**

**مشترک مصارف + مستقیم مصرفی مزد = تبدیل شوی قیمت**

**مشترک مصارف + اولیه قیمت = د دورې په اوږدو کي د تولید د مصارفو مجموعه**

**د دورې د مصارفو مجموعه + د دورې د پیل نیم کاره تولیدات = د دورې په اوږدو کې د نیم کاره تولیداتو تمام شد قیمت**

**د تولیداتو تمام شد قیمت - د تولیداتو تمام شوی قیمت - د تولیداتو تمام شد قیمت**

**د دورې د پای نیم کاره - د دورې په اوږدو کې نیم کاره - د دورې په اوږدو کې کار تمام**

**د پروژې مثال:**

ښاغلي احمد شکیب د لباس د تولید کار پیل کړ. له پیل کیدو څخه یو نیم کال تیریږي. له تاسو څخه د صنعتي مصارفو د سنجش د مشاور په توگه غوښتنه کوي چې د تولیداتو د تمام شوی قیمت د محاسبې او سنجش په برخه کې د هغه مرسته وکړئ.

د احمد شکیب د شرکت په اړه لاندې معلومات په لاس کې شته دي:

**الف:** - هغه مصارف چې په تولیدي شرکت کې تحمیل شویدي:

۱- د ټوکر د مختلفو ډولونو خرید.

۲- د اخستل شوي توکر د حمل او نقل مصارف.

۳- د گنډلو د تار خرید.

۴- د خیاطي ماشینونو د گنډلو د ستنو خریداري.

۵- د لباس لپاره د تڼیو اخستل.

۶- د خیاطي د ماشین الاتو او لوازمو لپاره د روغنیاتو خرید.

۷- پنځو خیاطانو ته د هغوی د تولید د مقدار په اندازه د مزد پرداخت.

۸- د موسسې د پاک کاري په عوض کې یوه کارگر ته د مزد ورکول.

۹- د موسسې د محل د اجارې مصارف.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰- دموسسې د اوبو او بریښنا مصارف.

۱۱- د ټوکر د برش کولو لپاره د مصرفي برق مصارف.

۱۲- د بازار موندنی یا مارکیټینګ د تبلیغاتو مصارف.

۱۳ د محصولا تو د حمل و نقل مصارف.

**د پروژې حل**

**۲۲ ۱- ۴ د مصارفو طبیعي طبقه بندي**

۱- د تولید مصارف: له (۱) څخه تر ( ۱۱) مادې پورې د تولید د مصارفو په نامه یادیږي.

۲- له دولسمې شمیرې څخه تر دیارلسمې شمیرې پورې مصارف د موسسې د تجارتي مصارفو په نامه یادیږي.

**د تولید د مصارفو طبقه بندي**

په مستقیمو او غیر مستقیمو مصارفو باندې د تولید د مصارفو طبقه بندي په لاندې ډول ده:

**مستقیم مصارف**

۱- د ټوکر خرید

۲- د اخستل شوي یا خریداري شوي ټوکر د حمل او نقل مصارف.

۳- د پنځو خیاطانو مزد.

**غیر مستقیم مصارف**

۱- د ګنډلو د تار خرید.

۲- د خیاطي ماشینونو لپاره د ګنډلو د ستنو خریداري.

۳- د تڼیو خرید.

۴- د خیاطي د ماشینونو او لوازمو لپاره د روغنیاتو خرید.

۵- د موسسې د پاک کونکي کارګر مزد.

۶- د موسسې د محل د اجارې مصارف.

۷- د مصرف شویو اوبو او بریښنا مصارف.

۸- برش د دستګا د مصرفې برق مصارف


(c) ketabton.com: The Digital Library

د تولید له تعداد او حجم سره د  تړاو له مخې د تولید د مصارفو  طبقه بندي

| نیمه متغیر مصارف | ثابت مصارف | متغیر مصارف |
|---|---|---|
| ۱- د ټوکر خرید<br>۲-د خرید د حمل او نقل مصارف<br>۳- د ګنډلو د تار مصارف<br>۴- د ټوکر د خرید مصارف<br>۵- د ۵  خیاطانو د مزد مصارف<br>۶- د برش د دستګاه مصارف | ۱- د ځای د اجارې مصارف | ۱-د خیاطي ماشینونو د ستنو د اخستلو مصارف<br>۲- د خیاطي د ماشینونو او لوازمو لپاره د روغنیاتو مصارف<br>۳- پاک کونکي کارګر ته د مزد ورکول<br>۴- د موسسې د مصرفې اوبو او بریښنا مصارف |

همدا شان د بازار موندنې او سوداګریزو اعلاناتو او د محصولاتو د فروش او حمل نقل مصارف هم د تجارتي مصارفو له ډلي ځخه ګڼل کیږي. د احمد شکیب د کالیو د  تولیدي شرکت تولید شوې امتعه  او ګنډل شوي کالي بازار ته عرضه کیږي.

**نیم کاره تولید:** ټول هغه لباسونه چې د تولید په بیلابیلو منځنیو مرحلو کې وي، د نیم کاره تولیداتو په نامه یادیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د احمد شکیب د تولید د موسسې د مصارفوله طبقه بندی ، دهغوی له تحلیل او تجزیې وروسته لاندې معلومات په اختیار کې لرو چې په مرسته یې  د مصرف شویو موادو تمام شوي قیمت سنجش کولی شو:

**په ۱۳۸۷کال کې معلومات**

| | |
|---|---|
| ۱- اخیستل شوي ټوکر | ۱۰۰۰۰۰۰ |
| ۲- د اخیستل شویو موادو د حمل او نقل مصرف | ۲۰۰۰۰۰۰ |
| ۳- د دورې په لمړیو کې د ټوکر موجودي | ۱۲۰۰۰۰ |
| ۴- د مالي کال په پای کې د ټوکر موجودي | ۶ ۰۰۰۰ |
| ۵- د خرید نغدي تخفیفات | ۵۰۰۰۰ |
| ۱- ۵نفرو خیاطانو ته قابل پرداخت مزد (مستقیم مزد)<br>د موسسې پاک کونکي کارگر ته قابل پرداخت مزد | ۲۰۰۰۰۰۰ |
| (غیرمستقیم مزد) | ۵۰۰۰۰ |
| ۱- د کالیو د گنډلو لپاره مصرفي تار | ۸ ۰۰۰۰ |
| ۲- اخیستل شوي مصرفي ستني | ۵۰۰۰ |
| ۳- اخیستل شوي تنۍ | ۲ ۰۰۰ |
| ۴- د خیاطي ماشین او نورو لوازمو لپاره د تیلو خریداری | ۳۰۰۰۰ |
| ۵- د موسسې د ځای اجاره | ۷۰۰۰۰ |
| ۶- د مصرفي اوبو او بریښنا مصارف | ۶۰۰۰۰ |
| ۱- د نیم کاره تولیداتو یا لباسونو لمړۍ موجودي | ۵۰۰۰۰ |
| ۱-د مالي کال دپای نیم کاره تولیداتو موجودي | ۸۰۰۰۰ |
| ۱- د دورې د ابتدایې لباسونو موجودي | ۹۰۰۰۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ۲- د مالي کال د پای د تولیداتو لباسونه | ۲۰۰۰۰ |
| ۱- د ۱۳۸۷ کال (فروشات ) | ۴۸۰۰۰۰۰ |
| ۲- له پلور څخه مستردي | ۱۵۰۰۰۰ |
| ۳- د توزیع او پلور مصارف | ۲۰۰۰۰۰ |
| ۴- اداری او تشکیلاتي مصارف | ۱۵۰۰۰۰ |

**مطلوب دي:**

۱- د موادو د مصرف گزارش، د جوړو شویو لباسونو گزارش ، د تولیداتو د قمیت د تعین کیدلو گزارش، د اولیه او تبدیل قیمت په څیر د شرکت د د اخلي گزارشونو تهیه او چمتو کول.

۲- د پلورل شویو لباسونو د تمام شوي قیمت د گزارش، د گټې او ضرر د گزارش په څیر د شرکت د خارجي گزارشونو تهیه او چمتو کول.

**د مسلې د لمړۍ برخې حل:**

د دې لپاره چې د شرکت داخلي گزارشونه چمتو کړای شو، پکار ده چې د مصارفو طبقه بندي په نظر کې ونیسو او د اړوند فرمولونو له مخې لازم گزارشونه چمتو کړو:

**د موادو د مصرف گزارش:**

(۱)

د نغدي خرید تخفیفات – حمل و نقل + خریداری شوي مواد = خالص خرید

خرید خالص ۱۱۵۰۰۰۰ =۵۰۰۰۰ – ۲۰۰۰۰۰ +۱۰۰۰۰۰۰

(۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دورې د پای موادو موجودي –خالص خريد + د دورې د لمړيو موادو موجودي = مصرف شوي مواد

مصرف شوي مواد ۱۲۱۰۰۰۰ =۶۰۰۰۰ – ۱۱۵۰۰۰۰+ ۱۲۰۰۰

د احمد شکيب د لباس جوړولو شرکت
د ۱۳۸۷ کال د موادو د مصرف گزارش

| | |
|---|---|
| د دورې په اول کې د موادو موجودي | ۱۲۰۰۰۰ ........................ |
| د مالي دورې په اوږدو کې د موادو خريد | ۱۰۰۰۰۰۰ ..................... |
| اضافه کيږي: د اخستل شويو موادو د حمل او نقل مصارف | ۲۰۰۰۰۰۰ |
| د اخستل شويو موادو قيمت | – ۱۲۰۰۰۰۰ ...................... |
| کسر کيږي: | |
| له تخفيفاتو او پير څخه برگشت | ۵۰۰۰۰ ................................ |
| د خريد نغدي تخفيفات | ۵۰۰۰۰ ......................... |
| خالص خريد | ۱۱۵۰۰۰۰ ...................... |
| مصرف ته د اماده موادو موجودي | ۱۲۷۰۰۰۰ ....................... |
| کسر کيږي: د دورې د پای موادو موجودي | ۶۰۰۰۰ ........................... |
| د مصرف شويو موادو تمام شد قيمت | ۱۲۱۰۰۰۰ ....................... |

د فرمول په واسطه د کار تمامه توليداتو د تمام شد
قيمت گزارش په راتلونکي صفحه کې دی:

مستقيم مزد + مستقيم مصرف شوي مواد = اوليه قيمت

۲۰۰۰۰۰۰ +۱۲۱۰۰۰۰= اوليه قيمت

۳۲۱۰۰۰۰= اوليه قيمت

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشترک مصارف + مستقیم مزد = تبدیل قیمت

۲۰۰۰۰۰۰ +(۸۰۰۰۰۰+ ۵۰۰۰+ ۲۰۰۰+ ۳۰۰۰۰+ ۷۰۰۰۰ +

۶۰۰۰ +۵۰۰۰۰ ) = ۲۰۰۰۰۰۰ +۲۹۷۰۰۰ =۲۲۹۷۰۰۰ قیمت تبدیل

مشترک مصارف + اولیه قیمت = د تولیدي دورې په اوږدو کې مجموعي مصارف

۳۲۱ ۰۰۰۰+ ۲۹۷۰۰۰

۵۳ ۰ ۷۰۰۰ = د تولید مصارف

د دوري په اوږدو کې مجموعي مصارف+ د دورى د لمړي سر نیم کاره تولیدات = د دوري په اوږدو کې د نیم کاره تولیداتو مجموعي قیمت

۵۰۰۰۰ + ۳۵۰ ۷۰۰۰

۳ ۵۵ ۷۰۰۰ = د دورې په اوږدو کې د نیم کاره تولیداتو تمام شوی قیمت

د مالي دورې په پای کې نیم کاره تولیدات – د دورې په اوږدو کې د نیم کاره تولیداتو تمام شوی قیمت = د دورې په اوږدو کې د کار تمامه تولیداتو تمام شوی قیمت

۳۵۵۷۰۰۰ - ۸۰۰۰۰

۳۴۷۷۰۰۰ = د دورې په اوږدو کې د کارتمامه تولیداتو تمام شوی قیمت

د احمد شکیب تولیدي شرکت:

په ۱۳۸۷ مالي کال کې د کار تمامه تولیداتو د تمام شوی قیمت گزارش:

| | |
|---|---|
| د مالي دوري په لمړیو کې د نیم کاره تولیداتو موجودي | .......... ۵۰۰۰۰ |
| د مالي دورې په اوږدو کې مصرف شوي اولیه مواد | .......... ۱۲۱۰۰۰۰ |
| مستقیم مزد | ........... ۲ ۰۰۰۰۰۰ |
| اولیه قیمت | ............. ۳۲۱۰۰۰۰ |

**د تولید مشترک مصارف**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| غیر مستقیم مزد | ۵۰۰۰۰ .............. |
| د خیاطي مصرف تار | ۸۰۰۰۰............ |
| د خیاطي ماشینونو د ګنډلو ستني | ۵۰۰۰............ |
| د لباس ټوکر | ۲۰۰۰ ........... |
| د خیاطي ماشنونو او لوازمو تیل | ۳۰۰۰۰ .......... |
| د ځای اجاره | ۷۰۰۰۰ ........... |
| د مصرفي اوبو او بریښنا مصارف | ۶۰۰۰۰......... |
| | ۲۹۷۰۰۰ .................................................. |
| د مالي دورې په اوږدو کې د تولید مصارف | ۵۷۰۰۰،۳ .......... ... |
| د مالي دورې په اوږدو کې د نیم کاره تولیداتو تمام شوی قیمت | ۳۵۵۷۰۰۰ .............. |
| کسر کیږي: د مالي کال په پآی کې د نیم کاره تولیداتو موجودي | ۸۰۰۰۰ ............... |
| د مالي کال په اوږدو کې د کار تمامه تولیداتو تمام شوی قیمت | ۳۴۷۰۰۰ ............ |

د احمد شکیب تولیدي شرکت:

په ۱۳۸۷ مالي کال کې د پلورل شویو تولیداتو د
تمام شوی قیمت ګزارش
د پلورل شویو تولیداتو د تمام شوي قیمت د سنجش طریقه

**مصرفي مواد**

| | |
|---|---|
| د دورې د لمړي سر موجودي ---- | ۱۲۰۰۰۰ .......................... |
| د دورې په اوږدو کې د اولیه موادو خرید | ۱۰۰۰۰۰۰ ........................... |
| د اخستل شویو موادو د حمل او نقل مصارف | ۲۰۰۰۰۰ ........................... |
| له تخفیفاتو او پېر ځخه برګشت | ۰۰۰ ............................. |
| د خرید نغدي تخفیفات | ۵۰۰۰۰ ......................... |
| | ۵۰۰۰۰ .................................................. |
| | ۱۱۵۰۰۰۰ .................................................. |

خالصه پیرودنه:

| | |
|---|---|
| مصرف ته د اماده موادوموجودي | ۱۲۷۰۰۰۰ ......................... |

(c) ketabton.com: The Digital Library

کسر کیږي: د مالي دورې د پای موادو موجودي ..................................... ۶۰۰۰۰
د مصرفي موادو تمام شوی قیمت ..................................... ۱۲۱۰۰۰۰
مستقیم مزد ..................................... ۲۰۰۰۰۰۰

د تولید مشترک مصارف:
غیر مستقیم مواد ..................................... ۸۷۰۰۰
غیر مستقیم مزد ..................................... ۵۰۰۰۰
د ماشینونو او لوازمو لپاره روغنیات ..................................... ۳۰۰۰۰
د تصدی ځای ..................................... ۷۰۰۰۰
د مصرفی اوبو او برق مصارف ..................................... ۶۰۰۰۰
د دورې په اوږدو کې د تولید مجموعي مصارف ..................................... ۲۹۷۰۰۰
۳۵۰۷۰۰۰
اضافه کیږي: د مالي کال په پای کې د نیم کاره تولیداتو د موجودي قیمت ۵۰۰۰
کسر کیږي: د مالي کال په پای کې د نیم کاره تولیداتو د موجودي قیمت.. ۸۰۰۰۰
د دورې په اوږدو کې د کار تمامه تولیداتو قیمت ..................................... ۳۴۷۷۰۰۰
اضافه کیږي: د دورې د لمړي سر د کار تمامه ..................................... ۹۰۰۰۰
تولیداتو قیمت
خرڅلاو ته د اماده تولیداتو قیمت ..................................... ۳۵۶۷۰۰۰
کسر کیږي: د مالي کال د اخیرې دورې په پای کې د کار تمامه تولیداتو تمام شوی قیمت.... ۲۰۰۰۰
د پلورل شویو تولیداتو تمام شوی قیمت..................................... ۳۴۵۷۰۰۰

د فرمول په واسطه د خالص مفاد سنجش:

د دورې د لمړیو تولیداتو قیمت + د دورې په اوږدو کې د کار تمامه تولیداتو قیمت = پلور ته د اماده تولیداتو تمام شد قیمت

۳۵۷۷۰۰۰+ ۹۰۰۰۰ = ۳۵۷۰۰۰

د دورې دپای کار تمامه تولیداتو قیمت= پلور ته د اماده تولیداتو قیمت = د پلورل شویو تولیداتوقیمت

۳۵۶۷۰۰۰-۲۰۰۰۰= ۴۵۳ ۷۰۰۰
۳۵۴۷۰۰۰ =د پلور د تولیداتو تمام شوی قیمت

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د پلور نغدي تخفیف +له تخفیفاتو او پلور څخه برګشت)- فروش = خالص فروش

۴۸۰۰۰۰۰ ( ۱۵۰۰۰۰+ ۰)= ۴۶۵۰۰۰۰

۴۶۵۰۰۰۰ = خالص فروش

د پلورل شویو تولیداتو تمام شوی قیمت – خالص فروش = ناخالص مفاد او ضرر

۴۶۵۰۰۰۰- ۳۵۴۷۰۰۰= ۱۱۰۳۰۰۰

۱۱۰۳۰۰۰ = ناخالص مفاد

د توزیع او پلور مصارف+ اداري او تشیلاتي مصارف = عملیاتي مصارف

۱۵۰۰۰۰ + ۲۰۰۰۰۰ = ۳۵۰۰۰۰

۳۵۷۰۰۰ عملیاتی مصارف

عملیاتی مصارف + خالص مفاد = خالص مفاد یا ضرر

۱۱۰۳۰۰۰- ۳۵۰۰۰۰= ۷۵۳۰۰۰

۷۵۳۰۰۰ = خالص مفاد

**د احمد شکیب تولیدي شرکت**

د خالص مفاد او ضرر ګزارش تاریخ ۲۹ / ۱۳۸۷/۱۲

**د خالص مفاد د سنجش طریقه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| خرڅلاو | ۴۸۰۰۰۰۰ |
| کسر میشود: | |
| له پلور او تخفیفاتو څخه را ستنیدنه | ۱۵۰۰۰۰ |
| د پلور نغدي تخفیفات | ۱۵۰۰۰۰ |
| خالص پلور | ۴۶۵۳۰۰۰ |
| د پلورل شویو تولیداتو تمام شوی قیمت | ۳۵۴۷۰۰۰ |
| نا خالص مفاد | ۱۱۰۳۰۰۰ |
| عملیاتي مصارف: | |
| تشکیلاتي مصارف | ۱۵۰۰۰۰ |
| د توزیع او پلور مصارف | ۲۰۰۰۰۰ |
| مجموعی عملیاتي مصارف | ۳۵۰۰۰۰ |
| خالص مفاد = | ۷۵۳۰۰۰ |

په صنعتي موسساتو کې د ګذارشونو له چمتو کولوسره اشنا شو، خو باید دې ټکي ته هم پام وکړو چې د امتحان په وخت کې د تمرین د حل په موخه د ریاضې له طریقو څخه هم استفاده وکړو او مجهول معلومات د ریاضي د فرمولونو په واسطه تر لاسه کړو.

پدې مثال کې مصرف شوي مواد معلوم دي چې خالص خرید مجهول دی، هغه د ریاضې د فرمول له لارې تر لاسه کوو.

**مثال:**

| | |
|---|---|
| ۱- د دورې لمړی موجودي | ۸۰۰۰۰ |
| ۲- د خریداري شویو موادو د حمل او نقل مصارف | ۵۰۰۰۰ |
| ۳- مصرف شوي مواد | ۱۶۰۰۰۰ |
| ۴- د دورې د پای موجودي | ۴۰۰۰۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- خالص خرید.. . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . ؟

د خالص خرید د تعین لپاره د موادو د مصرف له ګزارش څخه استفاده کولای شو.

د دورې دلمړیو موادو موجودي.. . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . ۸۰۰۰۰

اضافه کیږي، خالص خرید. . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . x

مصرف ته د اماده موادو موجودي.. . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . y

کسرکیږي: د دورې د پای موادو موجودي .. . . . . . . . . . . . . . . . . ۴۰۰۰۰

د مصرف شویو موادو موجودي.. . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . ۱۶۰۰۰۰

د دورې د پآی موادو موجودي –مصرف ته داماده موادو موجودي = مصرف شوي موجودي

۲۰۰۰۰۰ ۱۶۰۰ = y– ۴۰۰۰۰

y = ۲۰۰۰۰۰ مصرف ته د اماده موادو موجودي

۱۶۰۰۰۰۰ = ۸۰۰۰۰+ X

۱۲۰۰۰۰ = خالص خرید

**د څلورم څپرکي د مطالبو لنډیز**

۱- د مصارفو د سنجش دایره: هغه دایره چې د تولید او داسې نورو عملیاتو د سنجش اړوند مدارکو او اسنادو د ساتنې او حفاظت دنده په غاړه لري او د ټولو تولیدي مصارفو د تحلیل او تجزیې دنده په غاړه لري، د مصارفو د سنجش د دایرې په نامه یادیږي.

۲- کار تمام یا تکمیل شوي تولیدات: دا هغه ډول تولیدات دي چې د تولید مراحل یې په بشپړه توکه تر سره شوي او په عمومي توګه اماده او چمتو شوي وي.

۳- نیم کاره تولیدات: دا هغه امتعه ده چې د تولید د مراحلو په جریان کې قرار لري او تر اوسه پورې بشپړه شوې نوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵-د ټمام شوی قیمت اجزا او عوامل: دغه عوامل له اولیه موادو او مشترک مزد او مصارفو څخه عبارت دي.

۶- مستقیم او غیر مستقیم مواد د هغوی د طبقه بندۍ له مخې تفکیک کیږي.

۷- مشترک مصارف: له هغو مصارفو څخه عبارت دي چې د تولید په جریان کې واقع کیږي خو په مستقیمه توګه د تولید په ځانګړیو اقلامو پورې نه مختص کیږي.

۸- د بیمې مصارف د مشترکو تولیدي مصارفو له ډلې څخه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د څلورم څپرکي پوښتنې:**

۱-د صنعتي موسساتو د مصارفو د سنجش د طريقو په هکله معلومات ورکړئ؟

۲- په صنعتي موسساتو کې د تولید شوې امتعې د مصارفو د سنجش په هکله معلومات ورکړئ؟

۳- د پلورل شوې امتعې د مصارفو دسنجش په برخه کې معلومات ورکړئ؟

۴- د اولیه قیمت د پیداکولو سنجش د مثال په واسطه واضح کړئ؟

۵- د تبدیلي قیمت د پیدا کولو فرمول ولیکئ؟

۶- د یوې صنعتي موسسې د گټې او ضرر گزارش د مثال په واسطه واضح کړئ؟

۷- د دورې د پای موادو د مصرف گزارش ترتیب کړئ؟

۸-د یوې صنعتي موسسې د خالص مفاد گزارش ترتیب کړئ؟

۹- د تجارتې مصارفو د سنجش او صنعتي مصارفو د سنجش تر منځ څه توپیر شتون لري، معلومات ورکړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سرچينې او اخځليکونه:**


۱- سنجش مصارف در موسسات صنعتی افغانستان، انستیتوت اداره و صنعت کابل، دکتور هربرت هیریشی

۲- حسابداری صنعتی (حسابداری قیمت تمام شد) سازمان آموزشی و حرفه ای کشور ایران، مترجم پوهنیار غلام ربانی ظهور

۳- مفاهیم اساسی مصرف برای تصمیم گیری، پوهنتون مزار شریف، استاد محمد عارف

۴- حسابداری مالی و حسابداری شرکت ها، دانشگاه ها و مدارس ایران، محمد علی جلالی

۵- سنجش مصارف، پوهنتون کابل، پوهنحی اقتصاد، دکتور نذیر احمد شهیدی

۶- حسابداری صنعتی مقدماتی، وزارت آموزش و پرورش، ایران ابوالقاسم عشقی و محمد رضا جانسپاه

۷- حساب مصرف و سرمایه گذاری، پوهنتون کابل پوهنحی اقتصاد، مولف Carl Zimmerer

۸- تیوری تولید و مصرف، پوهنتون کابل، پوهنحی اقتصاد، دکتور نذیر احمد شهیدی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښوونیز نصاب د پراختیا د ریاست پیغام

د پوهنې وزارت د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت د ښوونیز نصاب د انکشاف ریاست د ټولنې د عیني او ښکاره ضرورت په درک کولو سره چې د محصلینو او شاګردانو د درسي کتابونو په برخه کې یې تخنیکي او مسلکي رشتې درلودې او لري یې، په لومړي سر کې یې تصمیم ونیو، چې په ښوونیزو پلانونو او درسي مفرداتو باندې بیا کتنه وکړي او ورپسې بیا د شاګردانو او محصلینو د درسي کتابونو د تالیف لپاره مبادرت او کوښښ وکړي. د خدای(ج) په فضل او مرحمت سره او د ادارې او حسابدارۍ څانګې د ښوونکو په میړانې او همت سره د ادارې او حسابدارۍ درسي کتابونه تالیف شول تر څو په وړیا ډول د شاګردانو او محصلینو په واک او اختیار کې ورکړل شي.

د علم او معرفت له ټولو لوستونکو، علاقمندانو، د ادارې او حسابدارۍ د مکاتبو له ښوونکو، ګرانو شاګردانو او د تخنیکي او مسلکي زده کړو د چارو له متخصصینو او همدا شان له ټولو څېړونکو او شنونکو څخه صمیمانه هیله کیږي، چې د دې کتابونو په مطالعې سره چې په لومړي ځل د ښوونکو او د ادارې او حسابدارۍ څانګې د مسلکي غړو له لوري تالیف او تدوین شوي دي. د مسلکي، تخنیکي او علمي مطالبو او مفاهیمو د څرنګوالي په هکله خصوصاً د هغوی املایي او انشایي اشتباهاتو په اړه مونږ ته لارښوونه وکړي، ترڅو په راتلونکي کې وکړای شو، په همدې او نورو برخو کې ګرانو شاګردانو ته له دې څخه ښه، غوره، ګټور او ارزښتناکه موضوعات وړاندې کړو.

همدا شان له ګرانو شاګردانو او محصلینو څخه هیله کوو ترڅو د دې کتابونو د مطالعې او استفادې پر مهال د هیواد اقتصادي ستونزې، فقر او وروسته پاتې والی په نظر کې ونیسي او د کتابونو په ساتنه کې کوښښ او زیار وباسي، ترڅو د ډېرو شاګردانو او محصلینو د ګټې وړ وګرځي.

**پته:** د پوهنې وزارت- د مسلکي او تخنیکي زده کړو معینیت

د تعلیمي نصاب د پراختیا ریاست

د درسي کتابونو د چمتو کولو عمومي مدیریت

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**